کرامات شیر خدا (پشتو)

کَرَّمَ اللّٰہُ تعالٰی وَجْهَهُ الْکَرِیْم

# کراماتِ شیرِ خُدا

(مع د غیرُ الله نه د مدد غوښتلو په باره کښې سوال جواب)





شَیخِ طَرِیقَت، اَمِیرِ اَھلِسُنّت، بانیءِ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال

## مُحَمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوِي

دامت برکاتهم العالیة


پښتو ترجمه:
مجلِسِ تراجِم
(دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د کتاب د لوستلو دُعا

د ديني کتاب يا اسلامي سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندي دُعا لولئ

اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتي کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

**ترجمه**: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

طالب غم
مدينه بقيع
ومغفرت

(اول او آخر کښ يو يو ځل دُرود شريف لولئ)

د رسالې نوم: کراماتِ شيرِ خُدا

اول ځل: .................

تعداد: .............

ناشِر: مَکْتَبَةُ الْمَدِينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ الْمَدينه کراچئ.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته

**کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ**

که د کتاب په طباعت کښ څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنډِنګ کښ مخکښ وروسته لګيدلې وي نو مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

www.dawateislami.net

# كراماتِ شيرِ خُدا

شيخ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا رِساله "كراماتِ شيرِ خُدا" په اردو ژبه کښې ليکلي ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجَمه کښې څه غلطي يا کمي، زياتي اوموميئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تَراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش:

## مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي

برائے رابطه:

عالمی مدنی مرکز فيضانِ مدينه محله سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدينه کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net

# فهرست

كراماتِ شيرِ خُدا.......... 2

مَولٰی علي ورله تش لاس دم كړو.......... 1
كټ شوي لاس ئي جوړ كړو.......... 2
د كرامت تعريف.......... 3
دريابي طوفان ختم شو.......... 5
چينه را ښكاره شوه!.......... 6
فالج وهلي ښه شو.......... 8
د اَولادِ علی سره د ښه سُلوك بدله.......... 10
نوم او اَلقاب.......... 12
د حضرتِ علي مُختصر تعارُف.......... 13
د "كَرَّمَ اللّٰهُ وَجۡهَهُ الۡكَرِيۡم" وئيلو او ليكلو سبب.......... 15
"ابو تُراب" كُنيَت كله او څنګه وركړې شو!.......... 16
په لږ ساعت كښې به ئي قُرآن ختمولو.......... 17
د مَولٰی علی شان په قُرآن كښې.......... 17
د څلورو دِرهمو خيراتولو څلور طريقې.......... 18
زمونږه د خيرات كولو انداز.......... 18
د مَولٰی علي په قُرآن پوهيدل.......... 21
د سُورۂ فاتِحَه تَفسِير.......... 21
د عِلم د ښار او د حِكمت د كور دروازه.......... 22
د مولٰی علي شان په ژبه د نبِيّ غيب دان.......... 22
عداوَتِ علي.......... 23
د ظاهِر او باطِن عالِم.......... 24
د علي د درې حُروفو په نِسبت.......... 24
په فضيلت كښې د صحابه ترتيب.......... 25

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كوم كس چه په ما درودِ پاك لوستل هیر كړل هغه د جَنَّت لاره هیره كړه. (طَبَرَانِي)

د عَشَرۂ مُبَشِّره مُبارك نوومونه ........ 26
د خُلَفائے راشِدِين فضيلت ........ 27
د علي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د مَحَبَّت تقاضه ........ 28
كله هُم د نه تړي كيدو عجيبه راز ........ 28
د علي ليدل عبادت دي ........ 32
د مړو سره خبري ........ 32
د عِبرت مَدَني گلونه ........ 34
د خوږ مُصطفٰی مولٰی علي ته عطا ........ 35
واه! څه شان دي د فاتِحِ خيبر ........ 36
د قُوَّتِ حيدري يوه نظاره ........ 37
د علي په شان بل بهادُر نشته ........ 38
د لُعاب او دُعائے مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم بَرَكتونه ........ 39
د مَولٰی علي اِخلاص ........ 40
د ديرشو كالو نمونځونه ئې را اوګرځول ........ 41
ته زما نه ئې ........ 42
ته زما ورور ئې ........ 43
شرحِ حديث ........ 43
د حضرتِ علي عِشقِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم ........ 44
د شيرِ خُدا قدرتي صِفات ........ 44
مَولٰی علي د مُؤمِنانو "ولي" دي ........ 47
دلته د "ولي" نه څه مُراد دي؟ ........ 47
د "يا علي مدد" وئيلو دلائِل ........ 48
د اَهلِ بَيت سره د مَحَبَّت فضيلت ........ 49
د حيدر د كورنۍ فضيلت ........ 50
ستا ګيره به په وِينو سره شي ........ 52
د درېِ خارجيانو د درېِ صحابه په باره كښې سازش ........ 53

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

د اِبنِ مُلجَم د بدبختئ سبب عِشق مجازي وو......53
د شهادت شپه......54
قاتِلانه حَمله......54
د اِبنِ مُلجَم د بدن ټُکړو ته ئي اور اولګولو......55
د مرګ نه پس د حضرتِ علي د قاتِل لړزوونکې حِکايت......56
د شَهوت د منلو درد ناك انجام......58
د صَحابَهٔ کِرَام شان......59
د مدني ماحول سره تړون ساتئ......61
د بدعقيدګئ نه توبه......61
﴿د غيرُالله نه د مدد غوښتلو په باره کښې سوال او جواب﴾......64
حضرتِ علي ته مُشکِل کُشا وئيل څنګه دي؟......64
"مَولٰی علي" وئيل څنګه دي؟......66
د چا چه زه مَولٰی يم د هغه علي هُم مَولٰی دې......66
د "مَولٰی علي" معنٰی......67
د مُفَسِّرينو په نزد د "مولٰی" معنٰی......68
د "اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ" بهترينه تشرِيح......69
د غيرِ خُدا نه د مدد غوښتلو په......73
نابِينا ته سترګې ورکړې شوې......74
د "يَارَسُولَ اللّٰه" والا دُعا په بَرَکت کار سَم شو......75
د وفات نه پس آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مدد اوکړو......76
اے د الله بندګانو! زما مدد اوکړئ......77
که په ځنګل کښې خاروې اوتښتي نو......78
چه کله د اُستادِ مُحترم سوَرلئ اوتښتيده!......78
د الله د بندګانو نه مُراد کوم خلق دي؟......79
د مړي نه مدد ولې اوغواړو؟......80
انبياءِ کِرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام ژوندي دي......80

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما درودِ پاك او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

حضرتِ سيّدُنا مُوسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام په مزار كښې نمونځ كولو ......................82
اولِياءُ الله هُم ژوندي دي ......................................................82
په حياتِ انبياء او حياتِ اَولِياء كښې فرق ......................................85
د وفات شوي اِمداد ډير قوي دې ................................................85
د غيرُالله نه د مدد غوښتلو په باره .............................................86
مرحُوم څلمي مُسكي شو او اوئې وئيل چه .......................................87
د الله تَعَالٰی هر ګران بنده ژوندې دې ..........................................87
د "يا علي مدد" وئيلو ثبوت.....................................................89
كه ياعلي مدد وئيل شِرك وي نو ................................................90
د "يا غوث" وئيلو ثبوت.........................................................91
د پيرانِ پير صاحب درې اِيمان تازه كوونكي ارشادات ..........................93
د جَنَّتي حُورې په نورو ژبو پوهيدل..............................................95
د حديثِ پاك اِيمان تازه كوونكي شرح............................................95
چه الله مدد كولې شي نو د بل چا نه مدد ولې اوغواړو..........................97
يو بشر هم د غيرِ خُدا د مدد نه بغير نه شي پاتې كيدې!.........................100
د پنځوسو په ځائ نمونځونه پينځه ښكه شو ......................................101
په جَنَّت كښې هُم د غيرُالله د مدد حاجت؟.....................................102
آيا د غيرُ الله نه مدد غوښتل كله واجِب هُم وي؟................................104
هغه مقامات كوم ځائ چه مدد غوښتل واجِب دي .................................104
هُغه مقامات چرې چه مدد كول واجِب دي.........................................105
د بُتانو نه مدد غوښتل شِرك دې ................................................109
د شِرك تعرف....................................................................110

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# كراماتِ شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم

## (مع د غيرُ الله نه د مدد غوښتلو په باره كښې سوال جواب)

شيطان كه هر څومره ناراستي درولي خو تاسو دا رِساله پوره اولوَلئ اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی د ثواب او معلوماتو سره سره به ستاسو په زړونو كښې د حضرتِ علي شيرِ خُدا مَحبَّت او عقيدت نور زيات شي.

## مَولٰی علي ورله تش لاس دم كړو....

يو ځل يو سوالګر د كُفَّارو نه سوال اوكړو، هغوئي د ټوقې د پاره د مخامخ ناست حضرتِ سيِّدُنا عليُّ الْمُرتَضٰی، شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم خوا ته اوليږلو. هغه حاضِر شو او د سوال كولو د پاره ئې خپل لاس خور كړو، هغوئي كَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم لس ځله دُرُود شريف اولوستو او د هغه ورغوي [يعني د لاس تلي] ئې پرې دَم كړو او ورته ئې اوفرمائيل چه: مُوټې بند كړه او چا چه راليږلې ئې لاړ شه د هغوئي په مخكښ ئې خلاص [يعني بيرته] كړه. (كُفَّارو خندل چه په هسې پوكلو څه كيږي!) خو چه كله سوالګر ورغلو او د هغوئي په مخكښ ئې مُوټې خلاص كړو نو په هغې كښې يو دِينار [يعني د سرو زرو اشرفئ] وه! دا كَرامت ئې چه اوليدو نو ډير كُفَّار مسلمانان شو. (رَاحَتُ الْقُلُوب ص١٤٢)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

وِرد جس نے کیا دُرود شریف اور دل سے پڑھا دُرود شریف
حاجتیں سب رَوا ہوئیں اُس کی ہے عَجَب کیمیا دُرُود شریف

وظيفه چه كړو چا دُرُود شريف چه د زړه نه اووئيل چا دُرُود شريف
حاجت پوره شو د هغه هر يو ده عجيبه كِيميا درود شريف

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# كټ شوې لاس ئې جوړ كړو

يو حبشي غُلام وو او هغه به د **امِيرُ الْمُؤمِنِين** حضرتِ **علىُّ الْمُرتَضٰى،** شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم سره ډير **مَحَبَّت** كولو، بد قِسمتئ سره هغه يوه ورځ غلا اوكړه. خلقو هغه اونيولو او په دربارِ خِلافت كښې ئې پيش كړو او هغه غُلام د خپل جُرم اقرار هم اوكړو. **امِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ** سيِّدُنا **علىُّ الْمُرتَضٰى** كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم په حُكمِ شرعي باندې عمل اوكړو او د هغه لاس ئې كټ كړو. چه كله هغه كور ته روان شو نو په لاره ئې د حضرتِ سيِّدُنا سَلمان فارسي رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ او **اِبنُ الكَوَّاء** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه سره ملاقات اوشو. **اِبنُ الكَوَّاء** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه ترې تپوس اوكړو چه ستا لاس چا كټ كړو؟ غُلام اووئيل چه: "**امِيرُ الْمُؤمِنِين و يَعْسُوبُ الْمُسْلِمِين** و زَوجِ بتول (كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم)." **اِبنُ الكَوَّاء** حيران شو او ورته ئې اووئيل چه هغوئې ستا لاس كټ كړو او ته بيا هُم په دومره قدر او اِعزاز او اِحتِرام د هغوئې نوم اخلې! غُلام اووئيل: "زه د هغوئې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كوم كس چه په ما درودِ پاك لوستل هير كړل هغه د جَنَّت لاره هيره كړه. (طَبَرَاني)

صِفَت ولي اونكړم! هغوئي په حق باندې زما لاس كټ كړو او زه ئي د جَهَنَّم د عذاب نه بچ كړم.” حضرتِ سيِّدُنا سَلمان فارسي رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د دواړو خبرې واوريدې او بيا ئې حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰى شيرِ خُدا رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ته د هغه تذكِره اوكړه نو هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم هغه غُلام را اوغوښتو او د هغه كټ شوې لاس ئې د هغه د مړوند سره اولګوو او په رومال ئې پټ كړو او څه لوستل ئې شروع كړل، په دې كښې يو غيبي آواز راغې: ”كپړه ترې لرې كړئ.“ چه خلقو ترې كپړه لرې كړه نو د غُلام كټ شوې لاس د مړوند سره داسې لګيدلې وو چه د كټ كيدو نښه هُم پرې نه وه! (تفسيرِ كبير ج٧ ص٤٣٤)

اے شبِ ہجرت بجائے مصطفٰے بر رختِ خواب
اے دمِ شدّت فِدائے مصطفٰے امداد کن
(حَدائِقِ بخشِش شريف)

شرحِ كلامِ رضا: اے د هِجرت په شپه د خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مباركه بستره خملاستو والا! اے په داسې سخت اِمتِحان كښې په حُضُورِ اكرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ځان قربانولو والا! زما مدد اوكړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د كرامت تعريف

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! حضرتِ علي، شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم د خپل رَبِّ عَظِيم جَلَّ جَلَالُهٗ په فضل و كرم د خپل غُلام

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

کتې شوې لاس د مړوند سره اولګوو! بيشکه رَبِّ کائِنات جَلَّ جَلَالُهٗ خپلو ګرانو مقبولو بندګانو ته په قِسم قِسم **اختيارات** ورکوي او هغوئي داسې کارونه کوي چه هغې ته انساني عقلونه نه رسي. کله کله ځيني خلق د شيطان په وسوسو کښې اخته شي او کرامات د خپل عقل په تله کښې تَلي او دغسې ګُمراهه شي. ياد ساتئ! کرامت هغه خِرقِ عادت [يعني خِلاف عادت] کار ته وائي کوم چه عادتاً مُحَال وي يعني چه د ظاهري اسبابو په ذريعه د هغې ظاهريدل مُمکِن نه وي. د **دعوتِ اِسلامي** د اشاعتي ادارې **مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** چاپ شوي د ۱۲۵۰ صفحو کتاب "**بهارِ شريعت**" جِلد اَوَّل صفحه ۵۸ کښې صدرُ الشَّريعه بدرُ الطَّريقه حضرتِ عَلّامه مُفتي مُحَمَّد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د نبي نه چه د اِعلانِ نُبُوَّت نه مخکښې داسې څيزونه ظاهرېږي هغې ته **اِرهاص** وائي او د اِعلانِ نُبُوَّت نه پس چه ترې ظاهر شي هغې ته مُعجِزه وائي، که د عامو مُؤمِنانو نه داسې څيز ظاهر شي هغې ته **مَعُونَت** وائي او که د وَلي نه ظاهر شي هغې ته **کرامت** وائي او که د کافِر يا فاسِق نه کوم يو خِرقِ عادت [يعني خِلاف عادت] کار ظاهر شي هغې ته **اِستِدراج** وائي. (بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص۵۸ مُلَخَّصاً)

عَقْل کو تنقید سے فرصت نہیں — عِشق پر اَعمال کی بُنیاد رکھ

عقل کله اُوزګارېږي اعتراض نه — د اعمالو بُنياد کيږده ته په عِشق

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيْب! — صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

# دريابي طوفان ختم شو

يو ځل په دريائے فُرات کښې داسې خوفناك طوفان راغې چه ټول پټي په سيلاب کښې ډوب شو، خلقو د حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰى شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم په دربار کښې فرياد اوکړو، هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ فوراً پاڅيدلو او د رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جُبَّه مُبارکه ئې واغوستله او د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عِمامه [يعني پټکې] مُبارك ئې په سر کړو او په اس سور شو، حَضَراتِ حَسَنَينِ کَرِيمَين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا او نور ډير خلق هم ورسره روان شو. د فُرات په غاړه هغوئي كَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم دوه رکعاته نمونځ ادا کړو، بيا په پُل ورغلو او په خپله هَمسا ئې دريائے فُرات ته اشاره اوکړه نو د هغې اوبه يو ګز کمې شوې، بيا ئې چه په دويم ځل ورته اشاره اوکړه نو يو ګز نورې کمې شوې او چه په دريم ځل ئې ورته اشاره اوکړه نو اوبه درې ګزه کمې شوې او سيلاب ختم شو. خلقو عرض اوکړو: يا اَمِيرَالْمُؤمِنِين! بس کړئ هُم دومره کافي دي.

(شواهدُ النُّبوّة ص ۲۱٤)

شاهِ مرداں شیرِ یزداں قوتِ پروردگار
لا فتٰی اِلاَّ علی، لَا سَیفَ اِلَّا ذُوالْفِقار

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

## چینه را ښکاره شوه!

مُقامِ صِفِّين ته د تللو په دوران کښې د حضرتِ سیِّدُنا علیُّ المُرتَضٰی شیرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم لښکر په يو داسې ميدان تيريدو چه هلته اوبه نه وې، پوره لښکر د تندې د لاسه بيتابه شو. هلته يوه ګِرجه [چرچ، يعني د عيسايانو عِبادت خانه] وه، د هغې راهِب اووئيل چه د دې ځائې نه دوه فَرسخه (يعني تقريباً څوارلس کلوميټره) وړاندې به اوبه پيدا کړې شئ. څه حَضَراتو د اوبو څښلو د پاره هلته د تللو اِجازت اوغوښتو، دا ئې چه واوريدل نو هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم په قچر سور شو او د يو ځائې طرف ته ئې اِشاره اوکړه او د هغې د کنستلو حُکم ئې اوفرمائيلو، کنستل شروع شو، يو ګټ پکښې راښکاره شو او د هغې د راوِيستلو ټول کوششونه ناکامه شو، دا ئې چه اوکتل نو مَولٰی مُشکِل کُشا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم د سوَرلئ نه کُوز شو او د دواړو لاسو ګوتې ئې د هغه ګټ په چاودې کښې واچولې او په زور ئې راښکلو نو هغه ګټ را اُو وتو او د هغې نه لاندې د ډيرو صفا او رڼو اوبو چينه راښکاره شوه! او ټول لښکر په هغې ښه موړ شو. خلقو په خپلو څاروو هم اوبه اوڅښلې او مشکونه ئې هُم ترې ډك کړل، بيا هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم هغه ګټ بيرته په خپل ځائې کيښودو. د ګِرجې عيسائي راهِب چه دا ګرامت اوليدو نو د حضرتِ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو كښې ډېر زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰى شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم په خِدمت كښې ئې عرض اوكړو چه: آيا تاسو نبي ئې؟ هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم اوفرمائيل: نه. هغه تپوس اوكړو: آيا تاسو فرښته ئې؟ اوئې فرمائيل: نه. هغه اووئيل چه بيا تاسو څوك ئې؟ هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم اوفرمائيل چه: زه د پيغمبرِ مُرسَل حضرتِ سيِّدُنا مُحمَّد بِن عبدُالله خاتَمُ النَّبِيّين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابي يم او ما ته تاجدارِ رِسالت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو څو خبرو وصِيَّت هُم فرمائيلې دې. دا ئې چه واوريدل نو هٰغه عِيسائي راهِب كَلِمه اووئيله او مسلمان شو. شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم ترې تپوس اوكړو چه تا د دومره مودې پورې اسلام ولې نه وو قبول كړې؟ رَاهِب اووئيل چه زمونږه په كتابونو كښې ليكلي شوي دي چه د دې كِرجې خوا ته د اوبو يوه پټه چينه ده، هغه چينه به هٰغه كس راښكاره كوي چه هغه به يا نبي وي يا به صحابي وي. چنانچه زه او زما نه مخكښې ډېر راهِبان په دې كِرجه كښې په هُم دې انتِظار كښې اوسيدل. نن تاسو كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم دا چينه راښكاره كړه نو زما مُراد پوره شو څكه ما دِينِ اِسلام قبول كړو. د راهِب بيان ئې چه واوريدو نو شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم په ژړا شو او دومره ئې اوژړل چه كِيره مُباركه ئې په اوښكو لَمده شوه، بيا ئې ارشاد اوفرمائيلو: اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ چه د دوئي په كتابونو كښې هم زما ذِكر دې. هغه راهِب چه مسلمان شو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزُ العُمّال)

نو د هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم په خادِمانو او مُجاهدينو كښې شامِل شو او د شام والؤ سره د جنګ كولو په دوران كښې شهيد شو. مَولٰی مُشكِل كُشا په خپلو لاسو مُباركو هغه خخ كړو او د هغه د پاره ئې د بخښنې دُعا اوكړه. (مُلَخَّص از كراماتِ صحابه ص ١١٤، شواهدُ النُّبُوَّة ص ٢١٦)

مرتَضٰی شيرِ خدا، مرحَب كُشا، خيبر كُشا
سرورا لشكر كُشا مشكِل كُشا اِمداد كن
(حَدائِقِ بخشِش شريف)

**شرحِ كلامِ رضا:** اے مُرتَضٰی (يعني خوښ او مقبوله) اے د **الله**تَعَالٰی شيره، اے مَرحَب (مَرحَب بن حارِث يهودي، د عربو نوموړي پهلوان او د قلعهٔ خيبر رئيسِ اعظم) زمكې ته راوېشتو والا! اے د خيبر فاتِحه! اے زما سرداره! اے يواځې د دُښمن لښكر ته شكست وركولو والا! اے مُشكِلات حل كولو والا زما مدد اوفرمائي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## فالج وهلې ښه شو

يو ځل اميرُ **الْمُؤمِنِين** حضرتِ سيِّدُنا علِيُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم د خپلو دواړو شهزادګانو حضرتِ سيِّدُنا اِمام حسن او امام حُسين رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا سره په حَرَمِ كعبه كښې حاضر وو څه ګوري چه يو كس ډير په ژړا ژړا د خپل حاجت د پاره دُعا كوي. هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم حُكم اوكړو چه هُغه كس زما خوا ته راولئ. هُغه كس په يوه ډډه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

**فالج وهلې** وو ځكه په ښويدو ښويدو حاضِر شو. هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم د هغه نه د واقعې تپوس اوكړو نو هغه عرض اوكړو: يا **اميرَ الْمُؤمِنِين!** زه د ګناهونو په معامله كښې ډير زيات بيباكه ووم، زما والِد **مُحترم** يو نيك او صالِحه مسلمان وو، زه به ئې په خبره خبره رټلم او د ګناهونو نه به ئې منع كولم، يوه ورځ د والِد صاحِب په خبره ما ته غُصَّه راغله او ما هغه اووهلو! زما د وهلو خوړلو نه پس هغه حَرَمِ كعبه ته راغلو او هغوئي ما ته ښيرې اوكړې، د هغه ښيرو په وجه ناڅاپه زما په يوه ډډه فالج **حمله** اوكړه اوس زه په زمكه په ښويدو ځم. د دې غيبي سزا نه ما ډير عبرت حاصِل كړو او ما په ژړا ژړا د والِد **مُحترم** نه معافي اوغوښتله، د هغوئي په زړه كښې رحم راغې او زه ئې معاف كړم. بيا ئې اوفرمائيل: "راځه بچيه! ما چه كوم ځائ كښې تا ته ښيرې كړې وې هُم هلته به ستا د صِحت د پاره دُعا هُم كووم." چنانچه مونږ دواړه پلار او ځوئ په اُوښه سواره شو او مَكّې مُكَرَّمې ته رارَوان شو، په لاره كښې ناڅاپه اُوښه اوتريدله او په منډه شوه، زما والِد صاحِب د دوه ختاو په مينځ كښې د اُوښې د شا نه پريوتلو او وفات شو. اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَیْهِ رٰجِعُوْنَ اوس زه يواځې حَرَمِ كعبه ته راغلې يم او شپه او ورځ په ژړا ژړا د **الله** تَعَالٰى نه د خپلې تندرستئ دُعا ګانې كووم. **اميرُ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰى شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

چه د هغه دا د عِبرت نه ډك داستان واوريدو نو په زړه كښې ئې ډير رَحم راغې او اوئې فرمائيل: اے سړيه! كه واقعي ستا پلار ستا نه راضي شوې وو نو اِطمينا ن لره چه اِنْ شَآءَاللّٰهُ تَعَالٰى ښه به شې، بيا هغوئې كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم يو څو ركعاته نمونځ اوكړو او د هغه د صِحَت د پاره ئې دُعا اوكړه او بيا ئې اوفرمائيل: ''قُمْ يعني ولاړ شه!'' دا ئې چه څنګه واوريدل نو هغه ډير په آساني پاڅيدو او اُوګرځيدو.

(مُلَخَّص از حجةُ الله علَى العَالَمِين ص ٦١٤)

کیوں نہ مشکلکشا کہوں تم کو
تم نے بگڑی مری بنائی ہے

ولې به نه وايم مُشكلكُشا تا ته زما وران كار كړلو تا ساز يا علي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اَولادِ علي سره د ښه سُلوك بدله

اَبُو جعفر نومې يو كس به په كُوفه كښې اوسيدو، د لين دين په معامله كښې به هغه د هر چا سره حُسنِ سُلوك [يعني ډير ښه سُلوك] كولو، خاص طور د حضرتِ علي رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ د اولاد كوم يو كس به چه د هغه نه څه سودا كوله نو هغه به چه هر څومره كم قِيمت ادا كړو هغه به قبلولو او يا به ئې د حضرتِ مَولٰى علي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم په نوم قرض ليكلو. د حالاتو په وجه هغه مُفلِس [يعني بالكل د مال نه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلٰی)

خلاص] شو. يوه ورځ هغه د خپلې دروازې مخې ته ناست وو، يو سړې په هغه ځائ تيردو، هغه په ده پورې ټوقې اوكړې چه ستا د ټولو نه غټ قرضدار (يعني حضرتِ مولٰی علي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم) ستا قرضه اد كړه كه نه؟" هغه په دې ټوقه سخت خفه شو. د شپې چه كله اوده شو نو په خوب كښې ئې د جنابِ رِسالت مآب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دِيدار سعادت حاصل كړو، حَسَنَينِ كرِيمَين (يعني حسن او حُسين) رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا هُم ورسره وو، د مديني تاجدار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شهزادګانو نه تپوس اوكړو: ستاسو د والِد صاحِب څه حال دې؟ حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم د شا نه جواب وركړو: يَارَسُوْلَ اللّٰه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زه حاضِر يم. حُضُورِ انور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته اوفرمائيل: "څه وجه ده چه د ده حق نه ادا كوې؟" هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم عرض اوكړو: يَارَسُوْلَ اللّٰه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ځان سره رقم راوړې دې. ورته ئې اوفرمائيل چه: ده ته ئې حواله كړه. حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم د ورېځ نه جوړه شوې يوه خلته هغه ته حواله كړه او ورته ئې اوفرمائيل: "دا ستا حق دې." رسولِ اكرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "دا وصول كړه او د دې نه پس هُم چه كله د دوئي په اولاد كښې څوك قرض [سودا] اخستلو له راشي نو محرومه ئې مه ليږه، د نن ورځې نه پس به په تا باندې لوږه او غريبي او مُفلِسي او

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَراني)

تنګدستي نه راځي." چه کله را وِيښ شو نو هغه خلته د هغه په لاس کښې وه! هغه خپلې ښځې ته غږ اوکړو او ورته وئيل ئې چه زه وِيښ يم که اُوده؟ هغې ورته اووئيل چه تاسو وِيښ ئې. هغه د خوشحالئ نه په جامو کښې نه ځائيدو، خپلې ښځې محترمې ته ئې ټوله قِصَّه اوکړه، چه کله ئې د قرضدارو فهرِست [يعني لِسټ] اوکتلو نو په هغې کښې د حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰى شيرِ خُدا په نوم د يوې ذرې هُمره قرضه هُم نه وه. (يعني د فهرِست نه هغه ټوله ليکلې شوې قرضه صفا شوې وه) (شواهِدُ الحق ص۲٤٦)

علی کے واسِطے سورج کو پھیر نے والے
اشارہ کر دو کہ میرا بھی کام ہو جائے
راګرځولې وو تاسو نمر د حضرت علي د پاره
چه اوشي زما هُم کارونه اوکړئ يوه اشاره

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## نوم او اَلقاب

اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰى شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم په مَكَّهٔ مُكَرَّمه کښې پيدا شوې وو. د هغوئي والده ماجِده حضرتِ سيِّدَتُنا فاطِمه بِنتِ اَسَد رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا د خپل پلار په نوم د هغوئي نوم "حيدر" کيښودو، پلار د هغوئي نوم "علي" کيښودو. حُضُور انور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئی كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم ته د "اَسَدُ الله" لقب ورکړو، د

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، خوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِيمان)

دې نه علاوه "مُرتَضٰی (يعني خوښ كړې شوې)"، "كَرَّار" (يعني بيا بيا راتاويدلو او حَمله كولو والا)"، "شيرِ خُدا" او "**مولا مُشكِلكُشا**" د هغوئ كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم مشهور اَلقابات دي. هغوئ كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم د مَكّي مَدَنی آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تره ځوئ دي.

(مِراٰةُ المناجِيح، ج ٨، ص ٤١٢ وغيره ملخصاً)

## د حضرتِ علي مُختصر تعارُف

**د خلورم خليفه**، حضرتِ سيِّدُنا علي اِبنِ ابي طالِب كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم كُنيَت "**ابوالحسن**" او "**ابو تُراب**" دي. هغوئ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د حُضُورِ اكرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تره ابوطالِب فرزند وو. حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا د عامُ الْفِيل[1] نه ديرش كاله پس (چه كله د نبيِّ اكرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عُمر مبارك ديرش كاله وو) په ١٣ رَجَبُ المُرَجَّب د **جُمعې** په ورځ په خانهٔ كعبه كښې دننه پيدا شوې وو.

(مُستَدرك ج ٤ ص ٦١١ حديث ٦٠٩٨)

د حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم د والِده ماجِده نوم حضرتِ سيِّدَتُنا فاطِمه بِنتِ اَسَد رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا وو. هغوئ كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم د لسو كالو په عُمر كښې اسلام قبول كړو او د تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په تربِيَّت كښې اوسيدلو او ټول عُمر ئې د

[1] يعني په كوم كال چه بدبخته اَبرَهه بادشاه د هتيانو د لښكر سره په خانه كعبه باندې حَمله كړې وه. د دې واقعې د تفصيل د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ كړې كتاب "عجائِبُ القُرآن مع غرائبُ القُرآن" اولوَلئ.

فرمَانِ مُصطَفٰى صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليكي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اِمداد او نُصرت او د دِينِ اسلام په حِمايت كښې تير كړو. هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم په اوَّلِينو مهاجرينو او په عَشَرهٔ مُبَشَّره كښې د شامليدو او د نورو خُصوصي دَرَجاتو په وجه ډير زيات اوچت حيثِيَّت لري. غزوهٔ بدر، غزوهٔ اُحُد، غزوهٔ خَندق وغيره ټولو اسلامي جنګونو كښې ئې د خپل بې پناه شُجاعت [يعني بهادرئ] سره شركت كړې وو او د كُفَّارو غټ غټ نوموړي نران د هغوئي رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ د تُورې ذُوالفقار په قهريدلو ګُزارونو جَهَنَّم ته رسيدلي دي. د اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ د شهادت نه پس انصارو او مُهاجرينو د هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم په مبارك لاس بَيعت اوكړو او هغوئي ئې اميرُ الْمُؤمِنِين مُنتَخَب كړو او څلور كاله اته مياشتې او نهه ورځو پورې په مَسنَدِ خِلافت باندې موجود وو. په ۱۷ يا ۱۹ رَمَضانُ الْمُبارَك د يو خبِيث خارجي په قاتِلانه حَمله سخت زخمي شو او په ۲۱ رَمَضانُ الْمُبارَك د يَك شنبې (يعني د اِتوار) په شپه ئې د شهادت سعادت حاصِل كړو. (تارِيخُ الخُلَفاء ص۱۳۲، اسد الغابة ج٤ ص۱۲۸، ۱۳۲، ازالة الخفاء ج٤ ص٤٠٥، معرفة الصحابة ج۱ ص۱۰۰ وغيره)

اصل نسلِ صَفا وجہِ وصلِ خدا
بابِ فضلِ ولایَت پہ لاکھوں سلام

(حَدائِقِ بخشِش شريف)

فرمَانِ مُصطَفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

**شرحِ كلامِ رضا:** حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰى كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم خالِص، پاك او د سَيِّدانو سَتِه او بُنياد دې، د الله عَزَّوَجَلَّ د نزديكت په وجه د ولايت حاصليدو دروازه دې، په هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم ډير ډير سلام.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د "كَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ الْكَرِيْم" وئيلو او ليكلو سبب

چه كله قُريش په **قحط** كښې اخته شوي وو نو حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اَبُو طالِب د بوج كمولو د پاره حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰى كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم خپلې بارګاه ته راوستلو، حضرتِ مَولٰى علي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم د حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په څنګ كښې غټ شو، د حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په غيږه كښې ئې تربِيَّت حاصِل كړو، د ماشوم والي نه ئې د حُضُورِ پاك صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبرې اوريدلې وې، عادتونه ئې ترې زده كړي وو. نو چه كله هغوئي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په ښه بد پوهه شو نو قطعاً، يقيناً ئې رَبِّ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى يو ګڼړلو او يو منلو. د هغوئي پاكه لَمَن كله هُم د بُتانو په نَجاست نه ده ككړه شوې. ځكه ورته لَقَب مُبارك "كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ" وركړې شو. (فَتَاوٰی رَضَوِيه ج٢٨، ص٤٣٦) د لسو كالو په عُمر كښې په اسلام كښې داخل شو، د نَبِيِّ كريم، رَءُوفٌ رَّحِيم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه نازولې شهزادګۍ حضرتِ سيِّدُنا فاطِمه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا د هغوئي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په نِكاح كښې راغله. د مشر شهزاده

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندي په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

حضرتِ سيِّدُنا اِمام حَسَن مُجتَبٰی رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنهُ په نِسبت د هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنهُ کُنيَت "اَبُو الحَسَن" دي او د مديني سردار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجهَهُ الكَرِيم ته د "اَبُو تُراب" کُنيَت عطا کړې وو. (تاريخُ الخُلَفَاء ص۱۳۲) حضرتِ سيِّدُنا علِیُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجهَهُ الكَرِيم ته دا کُنيَت د خپل اصلي نوم نه زيات خوښ وو.

(صحيح البُخاری ج۲، ص۵۳۵، حديث۳۷۰۳)

## "ابو تُراب" کُنيَت کله او څنګه ورکړې شو!

حضرتِ سيِّدُنا سَهل بِن سَعد رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنهُ فرمائي چه: حضرتِ سيِّدُنا علِیُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجهَهُ الكَرِيم يوه ورځ د حضرتِ سيِّدَتُنا فاطِمه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنهَا خوا ته [يعني کور ته] ورغلو او بيا جُمات ته لاړو خملاستلو (د هغوئي د تللو نه پس) د مديني تاجدار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (د هغوئي کور ته تشريف يوړو) او د بي بي فاطِمه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنهَا نه ئې د هغوئي [كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجهَهُ الكَرِيم] په باره کښ تپوس اوکړو. هغې رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنهَا جواب ورکړو چه په جُمات کښ دي. حُضُور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف وروړلو او اوئې کتلو چه د (حضرتِ) علي (كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجهَهُ الكَرِيم) نه څادر لرې شوې دې او د هغې په وجه د هغوئي شا په خاورو ککړه شوې ده. رسولِ کريم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي د شا نه خاوره څنډل شروع کړل او دوه ځله ئې اوفرمائيل: قُمْ اَبَاتُرَابٍ يعني پاڅه اے ابُو تُراب. [يعني اے د خاورو والا] (صحيح البُخاری ج۱، ص۱۶۹، حديث۴۴۱)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَراني)

اُس نے لقب خاک شَہَنْشاہ سے پایا
جو حیدرِ کَرّار کہ مولی ہے ہمارا

(حدائِقِ بخشِش شریف)

هغه ته لَقَب د خاورو ورکړو خوږ آقا
هغه حَيدرِ کَرّار ته چه مَولٰی دې زما

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په لږ ساعت کښې به ئې قُرآن ختمولو

حضرتِ سيّدُنا عليُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم به چه کله په اس باندې د سوَرېدلو په وخت کښې په يو رِکاب کښې ښپه کيښوده نو تِلاوتِ قرآن به ئې شروع کړو او په بل رِکاب کښې د ښپې ايښودو نه مخکښې به ئې پوره قُرآنِ مجيد ختم کړو. (شواهدُ النُّبُوَّة ص ٢١٢)

## د مَولٰی علی شان په قُرآن کښې

اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰى د سُورَةُ البَقَره په آيت نمبر ٢٧٤ کښې ارشاد فرمائي:

اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ بِالَّيْلِ وَ النَّهَارِ سِرًّا وَّ عَلَانِيَةً فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٢٧٤﴾

[مفهوم] ترجَمهٔ كَنْزُ الْاِيمَان: هغه، څوک چه خپل مالونه خيرات کوي د شپې او د ورځې، پټ او ښکاره، د هغوئې د پاره د هغې بدله (يعني اِنعام او حِصّه) ده د هغوئې د رب سره، هغوئې ته به نه څه انديښنه وي او نه څه غم.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

## د شلورو دِرهمو خيراتولو شلور طريقي

صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سيِّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه په "تفسِير خزائِنُ القُرآن" کښې د دې آيتِ مبارکه نه لاندې ليکي: "يو قول دا دې چه دا آيت د حضرتِ عليُّ المُرتَضٰى رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ په حق کښې نازِل شوې دې، داسې چه کله د هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم سره صرف شلور دِرهَمه (يعني د سپينو زرو سِيکې) وې نور ورسره هيڅ نه وو، هغوئي (كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم) هغه شلور واړه خيرات کړې. يوه د شپې، يوه د ورځې، يوه پټه او يوه ښکاره."

سُخن آکر يہاں عطّآر کا اِتمام کو پہنچا
تِری عَظَمت پہ ناطِق اب بھی ہیں آياتِ قرآنی
(وَسائِلِ بخشش ص ٣٩٨)

په دې ځاۍ خبره ختمه د عطّار شوه
ستا په عَظَمت باندې ناطِق قُرآنِ پاک دې

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## زمونږه د خيرات کولو انداز

سُبْحٰنَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! د اللّٰه تَعَالٰى نيك بندګان څومره اوچت شان لري، څنګه چه تاسو اوليدل چه هغوئي به د مال او دولت جمع کولو په ځاۍ په اخلاص خيرات کول خوښول. اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰى شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم سره شلور دِرهمه وو او هغه ټول

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : كوم خلق چه د خپل مجلِس نه د **الله** عَزَّوَجَلَّ د ذِكر او په **نبي** باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاځيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا ځيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

ئې د **الله** تَعَالٰى په لار كښې داسې خيرات كړل چه يو د ورځې، يو د شپې، يو پټ او يو ښكاره، ځكه چه معلومه نه ده چه كوم دِرهَم د **الله** تَعَالٰى په لار كښې زيات قبليږي او د رحمتونو او بَرَكتونو په لا زوال [يعني نه ختميدونكې] نعمت كښې د نورې اِضافې باعث جوړيږي. بل طرف ته زمونږه حالت دا دې چه كه كله د صدقه او خيرات كولو هِمَّت اوكړو نو د رضائے اِلٰهى جَلَّ جَلَالُهٗ نِيَّت پكښې چرې وي...! اخلاص پكښې چرې وي او لِلّٰهِيَّت پكښې چرې وي...! بس بيا دا غواړو چه په څه طريقه خلق خبر شي چه جناب دومره روپۍ خيرات كړي دي! تر څو چه زمونږه صَدَقه او خيرات مشهور نه شي تر هُغې مو زړه بې قراره وي، كه د جُمات د پاره څه وركړو نو خواهش لرو چه اِمام صاحب مو په دُعا كښې نوم ياد كړي چه خلق زمونږه د چندې وركولو نه خبر شي. **كه د يو مسلمان سره خير ښيګړه اوكړو نو** هُم دا خواهش مو وي چه په څه طريقه مې دا نيكي ښكاره شي او خلق زما سخاوت بيان كړي، كه په چا څه احسان اوكړو نو بيا خواهش لرو چه بس اوس دا زما خادِم جوړ شي، زما صِفتونه اوكړي حالانكه قرآنِ پاك مونږ ته د اِحسان نه زباتلو او د هغې بدله صرف د **الله** تَعَالٰى د ذات نه د غوښتلو حُكم راكوي، ځنكه چه اللّٰه تَعَالٰى په دريمه سيپاره سُوْرَةُ الْبَقَرَه آيت نمبر ٢٦٢ كښې ارشاد فرمائي:

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُوْنَ مَآ اَنْفَقُوْا مَنًّا وَّلَآ اَذًى ۙ لَّهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ

مفهوم] تَرجَمهٔ كَنْزُالْاِيْمَان: هغوئي، څوك چه خپل مالونه د اللّٰه په لار كښې خرچ كوي، بيا د وركولو نه پس نه احسان زباتي، نه تكليف وركوي، د هغوئي بدله (يعني اِنعام) د هغوئي د رب سره دې.

صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سيِّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې آيتِ مُباركه نه لاندې فرمائي: ”احسان زباتل خو دا دې چه د وركولو نه پس د نورو په مخكښې خبره ښكاره كړې چه ما ستا سره داسې داسې [ښه] سُلوك كړې وو او هغه [په دې خبره] خفه كړې او تكليف وركول دا دې چه هغه ته پيغور وركړې چه ته غريب وې، مُفلِس وې، مجبوره وې، بيكاره وې ما ستا سره ښه اوكړل يا پرې بل قِسم دباو واچوي، دا منع دي.“ (خَزَائِنُ الْعِرفَان) كاش چه! د اِخلاص كوونكي حضرتِ سيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم په خاطر مونږ ته هُم په اِخلاص د صَدَقه او خيرات كولو جذبه او سعادت نصيب شي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

مرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو
کر اِخلاص ایسا عطا یا الٰہی

(وَسَائِلِ بخشش (مرمّم) ص ۷۸)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډير نِزدې هُغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (ترمِذِی)

زما هر عَمل چه وي بس ستا د پاره
كړې داسې اِخلاص را عطا يا اِلٰهی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مَولٰى علي په قُرآن پوهيدل

د ظاهِري او باطِني عُلومو نه خبردار، حضرتِ سيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم (د تَحديثِ نعمت [يعني د نعمت د شكر] په طور) فرمائي چه: په اللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ مې دِ قَسَم وي: زه د قُرآنِ كريم د هر يو آيت په باره كښې معلومات لرم چه هغه كله او په كوم ځائ كښې نازل شوي دي. بيشكه ما ته اللّٰه تَعَالٰی د پوهيدو والا زړه او د تپوس كولو والا ژبه راكړې ده. (حلیۃُ الْاَوْلِیاء ج۱، ص ۱۰۸)

تڑپنے پھڑکنے کی توفیق دے
دلِ مرتضٰی سوزِ صِدّیق دے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د سُورهٔ فاتِحَه تَفسِير

اميرُ الْمُؤمِنين حضرتِ سيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم ارشاد فرمائي: "كه زه اوغواړم نو د "سُوْرَةُ الْفَاتِحه" د تفسِير نه به اَويا اُوښان ډك [يعني بار] كړم." (قُوْتُ الْقُلُوب ج۱، ص ۹۲)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

## د عِلم د ښار او د حِکمت د کور دروازه

دوه فَرامَينِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ﴿۱﴾ ”اَنَا مَدِیْنَۃُ الْعِلْمِ وَعَلِیٌّ بَابُھَا یعني زه د عِلم ښار يم او علي د هغې دروازه ده.“

(مُستَدرَك ج٤، ص٩٦، حديث٤٦٩٣)

﴿۲﴾”اَنَا دَارُ الْحِكْمَةِ وَعَلِیٌّ بَابُھَا یعني زه د حِکمت کور يم او علي د هغې دروازه ده.“ (سُنَنُ التِّرمِذِی ج٥. ص٤٠٢ حديث٣٧٤٤)

## د مولٰی علي شان په ژبه د نبِيّ غيب دان

حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم رِوايت کوي چه رَسُولِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (ما ته) اِرشاد اوفرمائيلو: ”په تا کښې د (حضرتِ) عِيسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام) مِثال دې، د چا سره چه يهوديانو بُغض اوساتلو تر دې چه د هغوئې په والِده ماجده ئې تُهمت اولګولو او د هغوئې سره عيسايانو مَحَبَّت اوکړو نو هغوئې ئې هٰغه درجې ته اورسولو کومه چه د هغوئې نه وه.“ بيا شيرِ خُدا حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ ارشاد اوفرمائيلو: ”زما په باره کښې به دوه قِسمه خلق هلاك کيږي زما په مَحَبَّت کښې اِفراط کولو (يعني د حَد نه تيريدلو) والا به ما په هٰغه صِفاتو وړاندې کوي کوم چه په ما کښې نشته او د بُغض ساتلو والا بُغض به هغوئې دې ته راپاروي چه په ما به بُهتان لګوي.“ (مُسندِ اِمام اَحمد بن حنبل ج١. ص٣٣٦ حديث١٣٧٦)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كوم كس چه په ما درودِ پاك لوستل هير كړل هغه د جَنَّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِي)

تَفضِیل کا جَویا نہ ہو مولا کی وِلا میں
یوں چھوڑ کے گوہر کو نہ تُو بہرِ خَذف جا
(ذوقِ نعت)

يعني د حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰى كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم په مَحَبَّت كښې دومره مه مخكښې كيږه چه هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم ته د شَيخَينِ كرِيمَين رَضِيَ اللّٰه تَعَالٰى عَنْهُمَا [نه زيات] فضيلت وركول شروع كړې! داسې مه تيروَزه چه د ملغلرو په شان صفا سُتره عقيده پريږدې او د كانړو په شان رَدِي عقيده اختيار كړې.

## عداوَتِ علي

مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې حديثِ مباركه نه لاندې فرمائي: "د عليُّ(الْمُرتَضٰى كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم) مَحَبَّت د اِيمان اصل دې. خو! په مَحَبَّت كښې ناجائِزه اِفراط (يعني د حده اووښتل) بد دي خو عَداوتِ علي [يعني د علي دُښمني] د سره حَرام بلكه كُفر هُم دې." (مِرْاٰةُ المَناجيح، ج ٨، ص ٤٢٤)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

علیٌّ المرتضیٰ شیرِ خدا ہیں
کہ اِن سے خوش حبیبِ کبریا ہیں

عليُّ الْمُرتَضٰى دي شيرِ خُدا
چه ترې خوشحاله دي حَبِيبِ خُدا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

## د ظاهِر او باطِن عالِم

فَقیهِ اُمَّت حضرتِ سیِّدُنا عبدُ الله بِن مسعُود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چه: **امیرُ الْمُؤمِنِین** حضرتِ سیِّدُنا عليُّ الْمُرتَضٰی شیرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم داسې عالِم دې چه دهغوئي سره د ظاهِر او باطِن[1] دوارِو عِلم دې.

(ابنِ عساکر ج۴۲ ص۴۰۰)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د علي د درې حُروفو په نِسبت
## د مَولٰی علي نور درې فضائِل

**امیرُ الْمُؤمِنِین** حضرتِ سیِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ارشاد فرمائي چه: فاتِحِ خیبر حضرتِ عليُّ الْمُرتَضٰی شیرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم ته درې داسې **فضیلتونه حاصِل دې** چه که په هغې کښې یو هم ما ته نصیب شوې وو نو ما ته به د سرو اوښانو نه زیات خوښ وو. صَحابَهٔ کِرَام عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان تپوس اوکړو چه: هغه درې فضائِل کوم کوم دي؟ اوئي فرمائیل: ﴿۱﴾ د **الله** جَلَّ جَلَالُهٗ خوږ حبیب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

[1] ظاهري مُراد د دې لفظي ترجَمه ده، باطِني مُراد د دې مطلب او مقصد دې. یا ظاهِر شریعت دې او باطِن طریقت. یا ظاهِر اَحکام دي او باطِن اَسرار. یا ظاهِر هغه دي چه په هغې عُلَماء خبر دي او باطِن هغه دي چه په هغې صُوفیائے کرام خبردار دي. یا ظاهِر هغه چه د نقل نه معلوم وي، باطِن هغه چه د کشف نه معلوم وي. (مِراٰةُ المناجیح، ج۱، ص۲۱۰)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب كيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

خپله شهزادګۍ حضرتِ فاطِمةُ الزَّهراء رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا د هغوئي په نِکاح کښې ورکړې ده ﴿۲﴾ دوئي د نبِيِّ كريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره په مسجِدِ نَبَوِي شريف کښې اوسيدلو او د دوئي د پاره په جُمات کښې هٔغه څه حلال وو چه هغه هُم د دوئي حِصَّه ده. او ﴿۳﴾ په غزوهٔ خيبر کښې دوئي ته د اسلام بيراغ عطا کړې شو. (مُستَدرَك ج٤، ص٩٤، حديث٤٦٨٩)

بهرِ تسلیم علی میداں میں
سر جُھکے رہتے ہیں تلواروں کے
(حَدائِقِ بخشِش شريف)

ميدان کښې هر يو وي تسليم علي ته
سرونه ښکته وي د تورو تُورو

## په فضيلت کښې د صحابه ترتيب

سُبْحٰنَ الله! د حضرتِ سيِّدُنا علِيُّ الْمُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم د شان به څه وائي چه اميرُالمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ هُم د هغوئي په قِسمت رَشك كوي، خو د دې مطلب دا نه دې چه ګني حضرتِ سيِّدُنا علِيُّ الْمُرتَضٰی رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په فضائِلو کښې د هغوئي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه زيات شو، د فضائِلو او مرتبو په لِحاظ د مَسلكِ حق اَهلِسُنَّت و جَماعت په نزد چه كوم ترتيب دې د هغې په بيان کښې صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: تول صَحابَهٔ كِرَام اَعلٰى او ادنٰى

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

(او په هغوئي کښې اَدنیٰ يو هم نه دې) ټول جَنَّتيان دي، د انبياء و مُرسَلِين نه پس، په ټول مخلوقاتِ اِلٰهي اِنسانانو او پيريانو او فرښتو کښې افضل صِدّيقِ اَکبر دې، بيا عُمر فاروقِ اعظم، بيا عُثمانِ غني، بيا مَولٰی علي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُم، څوك چه **مَولٰی علي** كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم ته د (حضرتِ سيّدُنا) صدّيق يا فاروق رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه افضل وائي هغه گُمراه او بد مذهبه دې. د خُلَفائے اَربَعهٔ راشِدِين نه پس د باقي عَشَرَهٔ مُبَشَّره او د حَضَراتِ حَسَنَين او د اصحابِ بَدر او د اصحابِ بَيعَةُ الرِّضوان (عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان) د پاره اَفضلِيَّت دې او دا ټول قطعي جَنَّتيان دي. د افضل معنٰی دا ده چه د **اللّٰه** تَعَالٰی په نزد د زيات عِزَّت او مَنزِلت والا وي، هُم دې ته د کثرتِ ثواب معنٰی هُم ورکوي. (مُلَخَّص از بَهارِ شرِيعَت ج١ ص٢٤١ تا٢٥٤)

مصطفٰے کے سب صَحابہ جنّتی ہیں لا جَرَم
سب سے راضی حق تعالٰی سب پہ ہے اُس کا کرم

بيشکه دي جنّتيان ټول صحابه د مُصطفٰی
په ټولو دي کرم، له ټولو دي راضی حق تعالٰی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د عَشَرهٔ مُبَشِّره مُبارك نومونه

حضرتِ سيّدُنا عليُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم په عَشَرهٔ مُبَشّره کښې هم شامل دې، عَشَرهٔ مُبَشِّره هغه لسو صَحابَهٔ کِرَامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زیات شُوم دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

وائي چا ته چه د **اللّٰه** تَعَالٰی د حبیب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکې خُلې نه خُصوصي طور د جَنَّتي کیدو زیرې ورکړې شوې دې. چنانچه د حضرتِ سیِّدُنا عبدُ الرَّحمٰن بن عوف رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې چه تاجدارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: "ابوبکر، عُمَر، عُثمان، علی، طلحه، زُبیر، عبدُالرَّحمٰن بِن عوف، سعد بِن اَبِي وَقَّاص، سعِید بِن زَید او اَبُو عُبَیده بِن جَرَّاح جَنَّتیان دي." (رِضْوَانُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہِم اَجْمَعِیْن)

(سُنَنُ التِّرمِذِی ج٥، ص٤١٦ حدیث٣٧٦٨)

وہ دَسوں جن کو جنّت کا مژدہ مِلا
اُس مُبارَک جماعت پہ لاکھوں سلام
(حدائقِ بخشش شریف)

هٰغه لس چا ته چه زیرې د جَنّت اوشو
په هغه مبارکه ډَله دِ وي ډیر ډیر سلام

## د خُلَفائے راشِدِین فضیلت

د فقیهِ اُمَّت حضرتِ سیِّدُنا عبدُاللّٰه بن مسعُود رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دې چه د مدینې د سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دې: "اَنَا مَدِیْنَةُ الْعِلْمِ وَاَبُوْبَکْرٍ اَسَاسُهَا وَعُمَرُ حِیْطَانُهَا وَعُثْمَانُ سَقْفُهَا وَعَلِیٌّ بَابُهَا" یعني زه د عِلم ښار یم، ابوبکر د هغې بُنیاد، عُمَر د هغې دیوال، عُثمان د هغې چت او علي د هغې دروازه دې."

(مُسنَدُ الفردوس ج١ ص٤٣ حدیث١٠٥)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شریف لولي زه به د قِیامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کنزُ العُمّال)

ترے چاروں ہم دم ہیں یک جان یک دل
ابو بکر فاروق عثماں علی ہے
(حدائقِ بخشش شریف)

ستا څلور واړه یاران دي یو بدن او یو زړه
ابوبکر فاروق عُثمان او علي دي

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د علي رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ د مَحَبَّت تقاضه

امیرُ الْمُؤمِنِین حضرتِ سیِّدُنا علیُّ المُرتَضٰی شیرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْکَرِیْم فرمائي چه: د رسُولِ کریم، رَءُوْفٌ رَّحِیْم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس د ټولو نه بهتر ابوبکر او عُمَر دي بیا ئې اوفرمائیل: ”لَا یَجْتَمِعُ حُبِّیْ وَبُغْضُ اَبِیْ بَکْرٍ وَّعُمَرَ فِیْ قَلْبِ مُؤْمِنٍ“ یعني زما مَحَبَّت او د (شیخَینِ جَلِیلَین یعني) ابوبکر او عُمَر رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا بُغض د یو مُؤمِن په زړه کښې نه شي جمع کیدې.“
(اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط لِلطَّبَرانی ج۳، ص۷۹، حدیث۳۹۲۰)

## کله هُم د نه تړې کیدو عجیبه راز

څوك چه د ”دما دم مَست قلندر علی دا پهلا نمبر“ [یعني د علي اول نمبر] والا نظریه ساتي، هغوئي په ډیره غټه خطا کښې اخته دي، د هغوئي د پوهه کولو د پاره یو اِیمان تازه کوونکې **حِکایت** وړاندې کووم، دا اولولئ او که اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی توفِیق درکړي نو حق قبول کړئ چنانچه حضرتِ سیِّدُنا شیخ ابُو محمد عبدُاللّٰه مُهتَدِي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي چه:

فرمَانِ مُصطَفٰى صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرانِي)

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما د حج سعادت حاصِل كړو. په حرم شريف كښې مې د يو كس په باره كښې واوريدل چه دا اوبه نه څښي! زه ډير حيران شوم، ما د هغه سره ملاقات اوكړو او تپوس مې ترې اوكړو چه دا څه وجه ده نو هغه اووئيل چه: زه د "حِلَّه" اوسيدونكې يم، يوه ورځ ما په خوب كښې د قيامت خوفناك منظر اوليدو، زه د سختې تندې د لاسه ډير بيتابه ووم او په څه طريقه د حُضُورِ اكرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حوضِ كوثر ته اورسيدم، هلته مې حضرتِ سيِّدُنا ابوبكر صِدِّيق، حضرتِ سيِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم، حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غَني او حضرتِ مَولٰى علي شيرِ خُدا عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان اوليدل، دې حَضَراتو خلقو ته اوبه وركولې. زه د حضرتِ علي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم په خِدمت كښې حاضِر شوم ځكه چه ما په هغوئې باندې ډير فخر كولو او ما د هغوئې سره ډير زيات مَحَبَّت كولو او د درې واړو خُلَفاء نه مې افضل [يعني غوره] كنړلو، خو څه كورم چه هغوئې رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ را نه مخ مبارك واړولو! زه ډير زيات تږې ووم ځكه وار په وار د هغه درې واړو خُلَفاءُ خوا ته هُم ورغلم خو هر يو را نه مخ مبارك واړولو. په دې كښې مې د مديني په تاجدار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نظر پريوتو، د خوږ مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په باركاه كښې حاضِر شوم او عرض مې اوكړو چه: يارَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مَولٰى علي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم ما ته

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

اوبه رانکړې بلکه مخ ئې را نه واړولو. نبيِّ اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو چه: هغه به تا ته څنګه اوبه درکړي! ته خو زما د صحابه سره بُغض ساتې! دا خبره مې چه واوريدله نو يقين مې پيدا شو چه زما عقيده غلطه ده او زه ډير پښيمانه شوم او د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په لاس مبارك په رښتيني **توبه ګار** شوم، بيا د مدينې تاجدار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته يوه **پياله** راکړه او هغه ما اوڅښله، بيا زما سترګې اوغړيدې، اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د کله نه مې چه د خوږ مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لاس مبارك نه پياله څښلې ده د هغې نه پس زه کله هم نه يم تږې شوې. د دې خوب نه پس مې د خپل کور کسانو او بال بچو ته د توبه کولو نصيحت اوکړو، په هغوئې کښې چه کومو کسانو توبه اوکړه او مَسلَكِ اَهلِسُنَّت و جَماعت ئې قبول کړو ما د هغوئې سره تعلُقات قائِم اوساتل او د باقي کسانو سره مې [تعلقات] پريښودل. (مُلَخَّص از مِصباحُ الظِّلام ص٧٤)

جب دامنِ حضرت سے ہم ہوگئے وابَستہ
دنیا کے سبھی رشتے بیکار نظر آئے

چه تعلُق مې شو د خوږ نبي سردار سره
اوس بيکاره راته ښکاري د دُنيا ټولې خپلوئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندي د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلٰى)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې رِوايت نه معلوميږي چه د رښتيني مسلمان نښه دا ده چه هغه به په خپل زړه كښې د ټولو صحابهٔ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عَظَمت او شان تسليموي. كه څوك د بعضې صَحابَهٔ كِرَامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سره مَحَبَّت او د بعضو سره بُغض ساتي نو هغه سخته غَلَطي كوي. اللّٰه تَعَالٰی دِ مونږ ته د ټولو صَحابَهٔ كِرَامو او د اَهلِبَيتِ عِظام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان حقيقي مَحَبَّت او عقيدت رانصيب كړي او په دې دِ اِستقامت راكړي او د دې اُلفت او محبَّت په حالت كښې دِ د گُنبَدِ خَضرا لاندې د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نظارو كښې شهادت، په جَنَّتُ البَقِيع كښې خښيدل او په جَنَّتُ الفِردوس كښې د خپل خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د څلورو وارو يارانو گاونډ رانصيب كړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَحابہ کا گدا ہوں اور اہلِ بیت کا خادم
یہ سب ہے آپ ہی کی تو عنایت یا رسول اللہ!
میں ہوں سُنّی، رہوں سُنّی، مروں سُنّی مدینے میں
بقیعِ پاک میں بن جائے تُربت یا رسول اللہ!

(وسائلِ بخشش ص ۱۸۴،۱۸۵)

زه يم غُلام د صحابه او يم خادِم د اهلَبيت
دا ده ټوله ستا عطا، يا رَسُولَ اللّٰه
چه يم په ژوند باندې سُنّي، مرِ شم سُنّي مدينه كښې
قبر مې جوړ شي په بقيع كښې كاش! يارَسُولَ اللّٰه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَرانی)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د علي ليدل عبادت دي

د دعوتِ اِسلامي د اشاعتي ادارې مَكْتَبَةُالْمَدِيْنَه چاپ شوي د ۱۹۲ صفحو كتاب "سَوانِحِ كَربَلا" صفحه ۷۴ كښې صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سيِّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه حديثِ پاك نقل كوي چه: د حضرتِ اِبنِ مَسعود رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْه نه رِوايت دې چه: حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "عَلِيُّ الْمُرتَضٰی (كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم) ته كتل عِبادت دې." (مُستَدرَك ج۴، ص۱۱۸، حديث۴۷۳۷)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مړو سره خبرې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم ته اللّٰه پاك داسې شان عطا كړې وو چه د هغوئې نه د قبرونو والؤ [يعني د مړو] سره خبرې كول هُم ثابت دي. چنانچه حضرتِ سيِّدُنا اِمام عبدُالرَّحمٰن جلالُ الدِّين سُيُوطي شافِعي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه "شَرحُ الصُّدُور" كښې نقل كوي چه، حضرتِ سيِّدُنا سعيد بِن مُسيَّب رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي چه: مونږه د اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا عَلِيُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم سره د مُقبرې [يعني د اَديرې] په خوا تيريدلُو، هغوئې كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم ارشاد اوفرمائيلو:

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، څوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

"اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرِ وَرَحْمَةُ الله يعني اے قبرونو والؤ! په تاسو دِ سلامتي او د الله (تَعَالٰی) رَحمت وي." او اوئې فرمائيل چه: اے د قبرونو والؤ! تاسو خپل خبر بيانوئ كه مونږه ئې تاسو ته بيان كړو؟ سيِّدُنا سعيد بن مُسَيَّب رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي چه مونږه د قبر نه د "وَعَلَيْكَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ" آواز واوريدو او هغه وئيل چه: يا اميرَ الْمُؤمِنِين! تاسو خبر راكړئ چه زمونږه د مرګ نه پس څه اوشو؟ حضرتِ مَولٰی علي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم ورته اوفرمائيل: واورئ! ستاسو مالونه تقسيم شو، ستاسو ښځو د نورو سره نكاح اوكړه، ستاسو اولاد په يتيمانو كښې شامل شو، كوم كورونه چه تاسو ډير مضبوط جوړ كړي وو په هغې كښې ستاسو دُښمنان آباد شو. اوس تاسو خپل حال بيان كړئ. دا ئې چه اووئيل نو د يو قبر نه آواز راغې: يا اميرَ الْمُؤمِنِين! زمونږه كفنونه اوشليدل او تار تار شو، زمونږه ويښته اورژيدل او اوشيندل شو، زمونږه څرمنې ټُكړې ټُكړې شوې، زمونږه ستركې په مخ ښكته اوبهيدې او زمونږه د سپيږمو نه نَوونه بهيږي او مونږه چه څه مخكښې ليږلي (يعني څنګه عملونه مو چه كړي) وو د هغې بدله مو اوليدله او څه مو چه په ځان پسې پريښودي وو په هغې كښې مو نُقصان اوكړو. (شرحُ الصُّدُور ص۲۰۹، اِبنِ عَساكِر ج۲۷ ص۳۹۵)

آخرت كى فكر كرنى ہے ضَرور
زندگى اِك دن گزرنى ہے ضَرور
قبر ميں ميِّت اُترنى ہے ضَرور
جيسى كرنى ويسى بھرنى ہے ضَرور
ايك دن مرنا ہے آخر موت ہے
كر لے جو كرنا ہے آخر موت ہے

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دي. (عَبدُالرَّزّاق)

د آخرت فِکر دې کول ضرور — تير به شي دا ژوند يو ځل ضرور
قبر ته دې ستا بنکته کيدل ضرور — بدله به درکوي ستا د عمل ضرور
مړ به شې يو ورځ آخر دِ مرګ دې — کړه چه څه کوې آخر دِ مرګ دې

## د عِبرت مَدَني ګلونه

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** په دې حِکايت کښې د حضرتِ سيِّدُنا علِيُّ الْمُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم د اوچت شان او عَظَمت او د اوريدو د طاقت يوه نظاره ښکاره شوه چه هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم د مړو نه د هغوئي د بَرزَخ د حالاتو تپوس اوکړو، د هغوئي جوابات ئې واوريدل او هغوئي ته ئې دُنياوي حالات بيان کړل، يقيناً دا د هغوئي عظيمُ الشَّان **کرامت** دې. او په دې رِوايت کښې زمونږ د پاره د عِبرت **مَدَني ګلونه** هُم شته دي [يعني] چه څوك په دُنيا کښې ښه اعمال نه کوي او د دُنياوي خواهشاتو په جال کښې نښتي وي او د آخرت نه غافِله اوسي نو د هغه قبر به د هغه د پاره د مصيبتونو کور جوړ شي او د دُنيا بې فائِده فکرونه او خواهشات به د هغه هيڅ پکار را نه شي بلکه صرف د دُنياوي مال جمع کولو په فِکرونو کښې اخته کس او بيا په هُم دې حال کښې د مړ کيدو او قبر ته ښکته کيدو والا به د خپل دُنياوي مال نه هيڅ فائِده حاصِله نه کړي، د هغه مُتَعَلِّقِين او وارثان به د هغه په مال قبضه اوکړي بلکه د مال حاصلولو د پاره به جګړې اوکړي او بيا به په خپله خپله لار

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

روان شي او دا نادان انسان به د مال جمع كولو په فكرونو كښې د مست اوسيدو او د حرام او حلال پرواه نه كولو او د ګناهونو نه ډك ژوند تيرولو په وجه د اور د عذاب حقدار اوګرځي.

دولتِ دُنیا کے پیچھے تُو نہ جا — آخرت میں مال کا ہے کام کیا؟
مالِ دُنیا دو جہاں میں ہے وبال — کام آئے گا نہ پیشِ ذُوالجلال

مه خوښوه ته د دې دُنيا دولت
دا مال نه راځي پكار د آخرت
مال د دُنيا دې دواړو جهانو كښې وَبال
پكار نه راځي په بارګاه د ذُوالجلال

صَــلُّـوْا عَـلَـی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د خوږ مُصطفٰی مولٰی علي ته عطا

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د حضرتِ سيّدُنا عليُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم څومره فضائِل او كمالات چه تاسو واوريدل هغه ټول د رَسُولِ خُدا محمد مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خاطر وركړې شوي دي. د حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خُصوصي مهربانئ او عطاګانو په خاطر اللّٰه تَعَالٰی حضرتِ سيّدُنا عليُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا ته هغه مُقام عطا كړې دې چه په هغې د هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم نه پس هر يو راتلو والا رشك كوي. اللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ او رسول صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ خپل

محبوب اوګرځولو او په دې خبره هغوئي داسې مُمتاز شو چه هغې ته د غټ نه غټ ولي، قُطب، غوث او ابدال هُم نه شي رسيدې. په بهارِ شريعت جِلد اَوَّل صفحه ۲۵۳ کښې دي: کوم يو ولي که د هر څومره غټې مرتبې والا وي هغه د يو صحابي رُتبې [يعني مرتبې] ته هُم نه شي رسيدې."

## واه! څه شان دي د فاتِحِ خيبر

په حضرتِ سيِّدُنا عليُّ الْمُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم باندې د رسولِ رَحمت صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مهربانئ او عطا يو ايمان تازه کوونکې **حِکايت** اوګورئ چنانچه حضرتِ سيِّدُنا سَهْل بِن سَعْد رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي چه: نبيِّ اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خيبر په ورځ اوفرمائيل: "صبا به زه دا بيراغ [يعني جَنډه] داسې کس ته ورکووم چه د هغه په لاس به اللّٰه تَعَالٰی فتح ورکوي، هغه د اللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ او د هغه د رسول (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) سره مَحَبَّت کوي او اللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ او رسول (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د هغه سره مَحَبَّت کوي." بله ورځ سحر هر يو سړي [د خپل خپل ځان د پاره] دا اُمِّيد لرلو چه بيراغ به هُم هغه ته ورکولې شي. [خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] اوفرمائيل: علي بِن اَبِي طالِب چرته دې. خلقو عرض اوکړو چه: يارَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي سترګې خوګيږي. اوئې فرمائيل: هغوئي را اوبلئ، هغوئي چه راوستلې شو نو د **اللّٰه** جَلَّ جَلَالُهٗ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته ورانديز کولې کيږي. (طَبَرانی)

محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم په سترګو خپل لُعابِ دَهَن (يعني لاړې مبارکې) اولګولې او دُعا ئې اوکړه نو هغه داسې ښه شو لکه په هغوئي چه هډو درد راغلې نه وو او هغوئي ته ئې بيراغ ورکړو. اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا عليُّ الْمُرتَضٰى كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم عرض اوکړو چه: يارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آيا زه د هغوئي سره تر هغې پورې جنګ اوکړم تر څو چه هغوئي زمونږه په شان مسلمانان جوړ نه شي. خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: نرمي اختيار کړه تر دې چه د هغوئي ميدان ته ورشې، بيا هغوئي ته د اِسلام دعوت ورکړه او د الله جَلَّ جَلَالُهٗ کوم حقونه چه په هغوئي لازِم دي هغه هغوئي ته اوښايه. قَسَم په خُدائے که اللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ ستا په ذريعه چا يو کس ته هِدايت ورکړي نو دا ستا د پاره د دې نه ښه ده چه ستا سره سره [يعني د سُور رنګ] اُوښان وي. (بُخاری ج۲، ص۳۱۲، حديث۳۰۰۹، مُسلِم ص۱۳۱۱ حديث ۲٤۰٦)

## د قُوَّتِ حيدري يوه نظاره

په غَزوۂ خيبر کښې يو يهودي په حيدرِ کَرّار [حضرتِ علي] كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم ګُزار اوکړو، په دې دوران کښې د هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم ډال پريوتو نو هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم مخکښې تير شو او د قلعې دروازې ته اورسيدلو او په خپلو لاسو ئې په راښکلو د قلعې پاټك راخلاص کړو او د دروازې د اَرِم نه ئې ډال جوړ کړو، هغه اړم د هغوئي په لاس

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِي)

كښ وو او مسلسل جنګ ئې كولو تر دې چه اللّٰه تَعَالٰی د هغوئې كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم په لاسو خيبر فتح كړو. هغه اَړم دومره درُوند [يعني وزني] وو چه كله جنګ ختم شو نو څلويښتو سړو په شريكه د اوچتولو كوشش اوكړو خو هغوئې كامياب نه شو.

(دلائِلُ النُّبُوَّةِ لِلْبَيْهَقِي ج ٤ ص ٢١٢)

اَعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: ؎

شیر شمشیر زن شاہِ خیبر شِکَن
پَرتَوِ دستِ قدرت پہ لاکھوں سلام
(حدائقِ بخشش شریف)

د شِعر تَرجَمه: يعني د خيبر په فتح كوونكي هغه تُورزن دِ ډير ډير سلام وي.

يو بل چا هُم څه ښه وئيلي دي: ؎

علی حیدر! تری شوکت تری صَولت کا کیا کہنا
کہ خطبہ پڑھ رہا ہے آج تک خیبر کا ہر ذرّہ

علي حيدره ستا د رُعب او دبدبې دا شان دې
هره ذرّه دِ د خيبر يادوي اوسه پورې

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د علي په شان بل بهادُر نشته

د اميرُ الْمُؤمِنِين، حضرتِ سيِّدُنا عليُّ الْمُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم يو ډير ښكاره صِفَت شُجاعَت او بهادُري ده او دې بهادُرئ ته غيبي

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاڅیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

مدد هُم حاصِل دي ځنګه چه په یو بل رِوایت کښې دي چه: کله امیرُ الْمُؤمِنِین، حضرتِ سیِّدُنا علیُّ الْمُرتَضٰی شیرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم په یوه غَزوه کښې بدکِرداره کُفَّار د کاځرې او مُولئ په شان کټ کول نو غیبانه آواز راغې: "لَاسَيْفَ اِلَّا ذُوالْفِقَارِ وَلَا فَتىٰ اِلَّا عَلِيٌّ" یعني د علي په شان څوك بهادُر نشته او د ذُوالفقار په شان بله تُوره نشته."

(جزء الحسن بن عرفة العبدی ص٦٢ حدیث٣٨ مأخوذاً)

ہیں علی مُشکِل کُشا سایہ کُناں سر پر مرے
لَافَتیٰ اِلَّا عَلِی, لَا سَیفَ اِلَّا ذُوالْفِقَار
(وسائلِ بخشش ص400)

سوري دي زما په سر علي مُشکِل کُشا
نشته بل بهادُر، نه بله تُوره مِکر ذُو الفقار

## د لُعاب او دُعائے مصطفٰی ﷺ بَرَکتونه

حضرتِ سیِّدُنا علیُّ المُرتَضٰی شیرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم فرمائي د مدینې د تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د لُعابِ دَهَن [یعني لاړې مبارکې] لګیدو نه پس زما دواړه سترګې کله هُم نه دي خُوګ شوې. (مُسندِ اِمام اَحمد ج۱ص١٦٩ حدیث٥٧٩) حضرتِ مَولٰی علي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم به په اُورِي کښې ګرمې [یعني پیړې] جامې او په جَمې کښې یخې [یعني نرئ] جامې اغوستلې، چا ترې د دې د وجهې تپوس اوکړو نو اوئې فرمائیل چه کله جنابِ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

رِسالت مَآب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما په سترګو د خپلې خُلې مُباركې نه لُعاب [يعني لاړې مباركې] اولګولې نو ورسره ورسره ئې راته دا دُعا هُم اوكړه: اَللّٰهُمَّ اَذْهِبْ عَنْهُ الْحَرَّ وَالْبَرْدَ يعني اے اللّٰه! د علي نه ګرمي او يخني لرې كړې." د هغه ورځې نه زما نه ګرمي كيږي او نه يخني.

(اِبنِ ماجه ج۱ ص۸۳ حديث ۱۱۷)

اِجابت كا سہرا عنايت كا جوڑا
دُلہن بن کے نکلی دعائے محمد صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَسَلَّم
(حدائقِ بخشش شريف)

د شِعر مفهوم: يعني د رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا په ډېر ښكلي شان قبوله شوه.

## د مَولٰی علي اِخلاص

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم د دومره بهادُر كيدو باوجود د تَكَبُّر، رياكارئ او نُمائِش وغيره او د هر قِسم رَذائِل [يعني بدو خصلتونو] نه پاك او د عمل او اِخلاص نمونه وو څنګه چه حضرتِ عَلَّامه علي قاري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "حضرتِ سيِّدُنا علي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم په جِهاد كښې يو كافِر په زمكه ځملوو او د هغه د قتل كولو په اِراده د هغه په سِينه د پاسه كښيناستلو، هغه په حضرتِ سيِّدُنا علي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم لاړې اُوتوكلې، دوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم هغه پريښودو او د سِينې نه ئې پاڅيدلو. هغه ترې د دې د وجهې تپوس اوكړو نو اوئې فرمائيل چه ستا په دې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډېر نِزدې هٰغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلې وي. (ترمذی)

كار ما ته غُصَّه راغله، اوس به ته ما د اِيمان [يعني د اسلام] په وجه نه بلكه د خپل نفس د پاره قتل كولې ځكه ته ما پرېښودلې، **هغه چه د دوئي** كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجۡهَهُ الۡكَرِيۡم **دا اخلاص اوليدو نو مسلمان شو.**"

(مرقاةُ المفاتِيح ج٧ ص١٢ تحت الحديث ٣٤٥١)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده چه د حيدرِ كَرَّار، **اميرُ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سيِّدُنا **علِيُّ المُرتَضٰی** شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجۡهَهُ الۡكَرِيۡم د اِخلاص په بَرَكت يهودي ته د اسلام په شان عظيمُ الشَّان نعمت نصيب شو، هُم دغسې به زمونږه نورو اَسلافِ كرامو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى **هُم د خپلو نيكو اعمالو جائِزه اغستله** چه زه دا عمل چرې نورو ته د ښودلو د پاره خو نه كووم! كه په يو نيك عمل كښې به ئې د نفس او شيطان د دَخَل اندازئ يا د رياكارئ معمولي شك هم **محسوسولو** نو فوراً به ئې هغه پرېښودو بلكه اكثر به ئې هغه صالح عمل د نوي سر نه د كولو تركيب جوړولو چنانچه

## د ديرشو كالو نمونځونه ئې را اوګرځول

**يو** بزرګ رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه به د **ديرشو** كالو نه د جُمات په وړومبي صف كښې [د جَمعې سره] نمونځ كولو، يو ځل هغوئي په وړومبي صف كښې ځائ حاصل نه كړې شو او په دويم صَف كښې اودريدلو نو ځان سره ئې په زړه كښې شرم **محسوس** كړو چه خلق به څه وائي چه اوګورئ! نن د دې سړي نه وړومبې صف پاتې شو. دا خيال ئې چه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

ځنګه په زړه کښې پيدا شو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فوراً سوچ او فکر اوکړو او د خپل نفس محاسبه ئې شروع کړه چه ''اے نفسه! ما چه د ديرشو کالو پورې کوم نمونځونه په وړومبي صف کښې کول، آيا هغه خلقو ته دښودنې د پاره وو چه نن ته شرميږې!'' چنانچه هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د تيرو ديرشو کالو نمونځونه بيا را اُوګرځول او د کمال صِدق او اِخلاص نادِر مثال ئې قائِم کړو. (اِحياءُ الْعُلوم ج۲ ص۳۰۲)

د الله جَلَّ جَلَالُهٗ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

دے حُسنِ اَخلاق کی دولت | کر دے عطا اِخلاص کی نعمت
مجھ کو خزانہ دے تقویٰ کا | یا اللہ! مِری جھولی بھر دے

(وسائل بخشش ص۱۰۹)

راکړې د حُسنِ اخلاق دولت | را عطا کړې د اِخلاص نعمت
ما ته راکړې خزانه د تقویٰ | يا اللّٰه! زما پوره کړې ارمانونه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ته زما نه ئې

د اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی خوږ محبوب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرتِ سيِّدُنا عليُّ الْمُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم په باره کښې فرمائي: ''اَنْتَ مِنِّيْ وَاَنَا مِنْكَ'' يعني ته زما نه ئې او زه له تا نه يم.'' (تِرمِذِی ج۵ ص۳۹۹ حديث۳۷۳۶)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هير کړل هغه د جَنَّت لاره هيره کړه. (طَبَرَاني)

يعني اے د مَولٰی علي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم د روښانه مخ رنړا! تا ته د الله جَلَّ جَلَالُهٗ قَسم درکووم چه په ما باندې خپل څرك راواچوه. او اے زما د زړه تِياري تا ته د مَولٰی مُشکِل کُشا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم د روښانه مخ قَسَم درکووم زما نه لرې شه.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ته زما وروړ ئې

د حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله بِن عُمَر رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوايت دې چه رسولِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (په مدينهٔ مُنَوَّره کښې په مهاجرينو او اَنصارو) صَحابَهٔ کِرَامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان کښې ورورولي قائِمه کړه نو حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم په داسې حالت کښې حاضر شو چه د سترګو نه ئې اوښکې رواني وې او عرض ئې اوکړو چه: يارَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو په صَحابَهٔ کِرَامو کښې ورورولي قائِمه کړه خو زه مو د هيڅ چا وروړ هُم جوړ نه کړم؟" رسولِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو، "اَنْتَ اَخِیْ فِی الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَة يعني ته په دُنيا او آخِرت کښې زما وروړ ئې." (تِرمِذِی ج٥ ص٤٠١ حديث٣٧٤١)

## شرحِ حديث

مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې حديث نه لاندې فرمائي: يعني ته د خپلوئ په لِحاظ هُم زما د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

تره څوئ [یعني ورور] ئې او اوس د ورورولئ د دې ترون په وخت کښې مې هُم ته خپل ورور جوړ کړې او په دُنیا او آخِرت کښې مې ته خپل ورور جوړ کړې. سُبۡحٰنَ الله (عَزَّوَجَلَّ)! خو یاد ساتئ چه کله هُم حضرتِ سیِّدُنا علي (كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم) حُضُور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د ورور غږ نه دې کړې (چه کله ئې غږ کړې دې) نو "یَارَسُولَ اللّٰه (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)" ئې وئیلې دې، نو بیا بل چا ته د ورور وئیلو حق څنګه کیدې شي! (مِراٰۃُ المناجیح، ج ۸، ص ۴۱۸)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرتِ علي عِشقِ مُصطفٰی ﷺ

د حضرتِ سیِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم نه چا تپوس اوکړو چه تاسو د رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره څومره مَحبَّت کوئ؟ اوئې فرمائیل: قَسَم په خُدائے جَلَّ جَلَالُهٗ! حُضُورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږه په نزد د خپل مال او آل، مور و پلار او د سختې تندې په وخت کښې د یخو اوبو نه هُم زیات محبوب (یعني ګران) دې. (الشّفاء ج۲ ص۲۲)

## د شیرِ خُدا قدرتي صِفات

د حضرتِ سیِّدُنا ابو صالِح رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه رِوایت دې چه: یو ځل حضرتِ سیِّدُنا امیر مُعاوِیه رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْه حضرتِ سیِّدُنا ضِرار رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته اوفرمائیل: "ما ته د حضرتِ سیِّدُنا علي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم اَوصاف

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

(يعني صِفتونه) بيان کړئ." حضرتِ سيِّدُنا ضِرار رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه عرض اوکړو چه: د اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا علیُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم د عِلم و عِرفان اندازه نه شي لګيدې، هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم د اللّٰه تَعَالٰی په معامله [يعني اِطاعت] کښې او د هغه د دِين په حِمايت [يعني ملګرتيا] کښې مضبوطې ارادې لرلې، فيصله کوونکې [يعني پخه] خبره به ئې کوله او ډير زيات عدل او انصاف به ئې کولو، د هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم ذات د عِلم او حِکمت چينه وه، چه کله به ئې خبرې کولې نو د خُلې مبارکې نه به ئې د حِکمت او دانائي ګُلونه رژيدل، د دُنيا [يعني مال، دولت] او د دې د رنګينئ نه به ئې يَره لرله، د شپې په تِياره کښې به (د عِبادتِ اِلٰهی جَلَّ جَلَالُهٗ په وجه) خوشحاله اوسيدو، په اللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ مې دِ قَسَم وي چه هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم ډير زيات ژړيدو والا، لرې سوچ لرونکې او غمژن وو، د خپل نفس محاسبه به ئې کوله، زِيګ او پيړ لباس به ئې خوښولو او [د عاجزئ په وجه به ئې] پيړه [د بې چنړه وړو] ډوډئ خوړله. په اللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ مې دِ قَسَم وي! رُعب او دبدبه ئې داسې وه چه په مونږ کښې به هر يو د هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم سره خبره کولو نه يَريدو، حالانکه چه مونږه به کله حاضر شو نو د ملاقات د پاره به هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم رامخکښې کيدلو او چه کله به ترې مونږه څه تپوس اوکړو نو جواب به ئې راکولو، او زمونږه دعوت به ئې قبلولو، چه کله به مُسکې شو نو غاښونه مبارک به ئې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

داسې وو لکه د ملغلرو لړئ، هغوئی كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم به د پرهيزګارو اِحترام كولو، د مِسكينو خلقو سره به ئې مَحَبَّت كولو، كوم يو طاقتور يا مالدار كس ته به ئې د هغه په باطِل (يعني بيكاره) خواهش كښې اُمِّيد نه وركولو، يو كمزورې كس به هُم د هغوئې كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم د عدالت نه مايوسه نه تلو بلكه هغه به دا اُمِّيد لرلو چه زما سره به دلته ضرور انصاف كيږي. په اللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ مې دِ قَسَم وي چه كله به شپه راغله نو هغوئې كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم به خپله ګِيره مباركه اونيوله او ډير زيات به ئې ژړل او د زخمي زمري په شان به ډډې په ډډې اووښتو. ما د هغوئې كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم نه دا فرمان واوريدو: "اے دُنيا! آيا تا زما نه مخ اړولې دې يا تر اوسه پورې زما شوق لرې؟ اے دوكه بازې دُنيا! لاړه شه، بل چا ته دوكه وركړه، ما تا ته درې طلاقه دركړې دي اوس په دې كښې بالكل رَجُوع نه شي كيدې، ستا عُمر ډير كم او ستا سهولتونه او نعمتونه ډير سپك [يعني ذليله] دي، او ستا نُقصانونه ډير زيات دي، هائے! (د آخِرت) سفر ډير اُوګد دې او د لارې سامان راسره ډير كم دې او لاره ډيره زياته خطرناكه او تاوكښونو والا ده." دا ئې چه واوريدل نو د حضرتِ سيِّدُنا امير مُعاوِيه رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ د ستركو نه اوښكې روانې شوې تر دې چه ګِيره مُباركه ئې په اوښكو لَمده شوه او هلته موجودو خلقو هُم ډير اوژړل، بيا هغوئې رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اوفرمائيل: "اللّٰه تَعَالٰى دِ په اَبُو الحَسَن (حضرتِ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجۡهَهُ الۡكَرِيۡم) رَحم اوفرمائي، قَسَم په خُدائے! هغوئي هُم د غسې وو." (عيونُ الحِكايات ص٢٥)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## مَولٰی علي د مُؤمِنانو "ولي" دې

د حضرتِ سيِّدُنا عِمران بن حُصَين رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دې چه: د مديني د تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: "اِنَّ عَلِيًّا مِّنِّىْ وَاَنَا مِنْهُ وَهُوَ وَلِيُّ كُلِّ مُؤْمِنٍ يعني علي زما نه دې او زه د علي نه يم او هغه د هر مُؤمِن ولي دې." (ترمِذی ج٥ ص٤٩٨ حديث٣٧٣٢)

واسطہ نبیوں کے سرور کا واسِطہ صِدّیق اور عُمَر کا
واسِطہ عثمان و حیدر کا یااللہ! مِری جھولی بھر دے
(وسائلِ بخشش ص ١٠٧)

په خاطر د نبيانو د سرور په خاطر د صِدِّيق او عُمَر
په خاطر د عُثمان او حيدر ياالله! زما پوره کړې ارمانونه

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دلته د "ولي" نه څه مُراد دې؟

**مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: دلته ولي د خليفه په معنٰی کښې نه دې بلکه د دوست په معنٰی کښې يا د مددګار په معنٰی کښې دې، ځکه چه رب [تَعَالٰی] فرمائي:

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما د **جُمْعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزُ العُمّال)

اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا (پ٦، المآئِدہ: ٥٥)

[مفهوم]تَرجَمۂ كَنزُ الاِيمَان: ستاسو دوستان نه دي خو الله او د هغه رسول او اِيمان والا.

هلته هُم ولي د مددګار په معنٰی كښې دې. ”د دې فرمان نه دوه مسئَلې معلومې شوې، يوه دا چه د مصيبت په وخت كښې ”يا علي مدد“ وئيل جائِز دي، ځكه چه حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجهَهُ الكَرِيم د هر مُؤمِن مددګار دې د قيامته پورې، بله دا چه هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجهَهُ الكَرِيم ته ”مَولٰی علي“ وئيل جائِز دي ځكه چه هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجهَهُ الكَرِيم د هر مُسلمان ولي او مَولٰی دې.“ (مِراٰةُ المناجيح، ج ٨، ص ٤١٧)

دُشمن كا زور بڑھ چلا ہے يا علی مدد!
اب ذوالفِقارِ حيدرَی پھر بے نِيام ہو
دُښمن زورَوَر شوې دې ياعلي مدد!
اوس يا را اوباسئ هغه تُوره ذُو الفقار

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ”يا علي مدد“ وئيلو دلائِل ........

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د ”يا علي مدد“ وئيلو د مسئَلې په وَضاحَت باندې د پوهه كيدو د پاره او د بيشميره وسوسو ختمولو د پاره د دعوتِ اِسلامي د اشاعتي ادارې مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه نه ”غيرُ الله سے مدد مانگنے كا ثُبُوت“ په نوم (VCD) هَدِيَّةً حاصله كړئ، هغه اوګورئ. او د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

هُم دې رِسالې د صفحه ٦٤ نه صفحه ١١١ پورې هُم د قُرآن او حديث په رنړا كښې دا مسئَله واضِحه كړې شوې ده.

## د اَهلِ بَيت سره د مَحَبَّت فضيلت

د دواړو جهانو سردار خوږ پيغمبر صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يوه ورځ د اِمام حَسَن او حُسَين رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا لاس اونيولو او اوئې فرمائيل: څوك چه زما سره مَحَبَّت كوي او ورسره دوئي او د دوئي والِدَين [يعني مور او پلار] سره هُم مَحَبَّت كوي هغه به د قيامت په ورځ زما سره وي."

(مُسندِ اِمام اَحمد بِن حنبَل ج١ ص١٦٨ حديث٥٧٦)

مصطفٰی عزّت بڑھانے کے لئے تعظیم دیں
ہے بلند اِقبال تیرا دُودمانِ[1] اہلِ بیت

(ذوقِ نعت) (١) خاندان

زياتوي تعظِيم و عِزّت ستاسو مُصطفٰى
اوچت ستاسو قِسمت دې خاندانِ اَهلبيت

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! چا ته چه د اَهلِبَيت مَحَبَّت نصيب شي هغه به د دواړو جهانو عِزَّت اوموي، په آخِرت كښې به ورته د رسولِ رَحمت، شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رَفاقَت [يعني يو ځائ كيدل] نصيب شي او د اَهلِبَيت په خاطر به د هغه بخښنه او مغفِرت اوشي.
اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰى

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

اُن دو کا صدقہ جن کو کہا میرے پھول ہیں
کیجے رضاؔ کو حشر میں خنداں مثالِ گل

(حَدائِقِ بخشِش شریف)

شرحِ کلامِ رضا: يا رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تاسو فرمائيلي دي چه: اِنَّ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ هُمَا رَيْحَانَتَایَ مِنَ الدُّنْيَا "حسن او حُسين زما دوه ګلونه دي،" (ترمِذی حدیث۳۷۹۵) د هُم دې دواړو جنّتي ګلونو په خاطر! احمد رضا د قيامت په ورځ د ګل په شان خنديدلي او خوشحاله کړې.

په خاطر د هغه دواړو چه وئيلي ورته تا دي خپل ګلونه
رضا کړې په ورځ د حشر د ګل په شان خوشحاله

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حيدر د کورنۍ فضيلت

حَضَراتِ حَسَنَينِ کَرِيمَين رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا ناجوړه شُو نو امِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيّدُنا عليُّ الْمُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم او حضرتِ سَيِّدَتُنا فاطِمه او خدمت ګارې حضرتِ سيِّدُنا فِضَّه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا د دواړو شهزاد ګانو رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا د صِحَت يابئ د پاره د درې روژو نيولو منښته اوکړه. اللّٰه تَعَالٰى دواړو شهزادګانو رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا ته شِفا ورکړه، چنانچه درې روژې ئې اونيولې. حضرتِ مولٰی علي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم درې صاع وَربشې راوړې. يو يو صاع (يعني په څلور کِلو کښې ۱۶۰ ګرامه کمې) درې واړه ورځې پخې کړې شوې. چه کله به د روژه ماتې وخت شو نو يوه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندي د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلٰی)

ورځ مِسكِين، يوه ورځ يَتِيم او يوه ورځ قيدي د دروازې مخې ته راحاضر شو او د ډوډو سوال ئې اوكړو نو دري واړه ورځې ئې ټولې ډوډئ هغه سوالګرو ته وركړې او صرف په اوبو ئې روژه ماته كړه او بله روژه به ئې اونيوله. (خَزَائِنُ الْعِرفان ص ۱۰۷۳ بتصرُّف) **د الله تَعَالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

بھوکے رہ کے خود اَوروں کو کھلا دیتے تھے
کیسے صابِر تھے محمد صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّم کے گھرانے والے
اُوږي به پاتې شو په نورو به ئې خوړلو طعام
خومره صابِر د مُحَمّد صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّم دكورنئ والا وو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

په قُرآنِ كريم كښې اللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ د اميرُ الْمُؤمِنِين مولائے كائِنات، حضرتِ سيِّدُنا عليُّ الْمُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجۡهَهُ الۡكَرِيۡم د كورنئ دا اِيمان تازه كوونكي اِيثار داسې بيان كړې دې:

وَ يُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِیْنًا وَّ یَتِیْمًا وَّ اَسِیْرًا ﴿۸﴾ اِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللّٰهِ لَا نُرِیْدُ مِنْكُمْ جَزَآءً وَّ لَا شُكُوْرًا ﴿۹﴾ (پ۲۹، اَلدَّهر ۸، ۹)

[مفهوم] تَرجَمۀ كَنْزُالْاِيمَان: او طعام خوري د هغه په مَحَبَّت كښې په مِسكِين او يَتِيم او قيدي باندې، هغوئي ته وائي مونږ تاسو ته خاص د الله د پاره طعام دركوو، تاسو نه څه بدله يا شُكر ګُزاري نه غواړو.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَراني)

# ستا ږِيره به په وِينو سره شي

حضرتِ سيّدُنا عَمّار بن ياسِر رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائي: زه او حضرتِ سيّدُنا عليُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم په "غزوهٔ ذِی الْعُشَيْرَه" كښې وو چه نَبِيّ آخِرُ الزّمان، رسولِ غيب دان صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: آيا زه تاسو ته د هغه دوه كسانو په باره كښې خبر درنكړم، كوم چه په خلقو كښې د ټولو نه زيات بدبخته دي؟ مونږه عرض اوكړو: "ولې نه، يارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم!" پس رسولِ غَفَّار، په غيبو خبردار، بِاِذنِ پروردګار صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (د غيبو خبر راكړو) او اِرشاد ئې اوفرمائيلو: "﴿۱﴾...... د قومِ ثَمُود هغه كس (يعني قَدار بن سالِف) چا چه د الله (جَلَّ جَلَالُهٗ) د نبي (حضرتِ) صالِح (عَلَیْہِ السَّلَام) د مُقَدَّسې اُوښې ښپې مُباركې كټ كړې وې او ﴿۲﴾ ...... اے علي (كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم)! هغه كس خوك چه به ستا سر په تُوره اُووَهي او ستا ږِيره به په وِينو سره كړي."

(مُسندِ اِمام اَحمد بِن حنبل ج٦ ص٣٦٥ حديث١٨٣٤٩ مُلَخَّصاً)

جن کا کوثر ہے جنّت ہے اللہ کی — جن کے خادِم پہ رافت ہے اللہ کی
دوست پر جن کے رَحمت ہے اللہ کی — جن کے دُشمن پہ لعنت ہے اللہ کی
اُن سب اہلِ مَحبّت پہ لاکھوں سلام

د چا چه دي كوثر، جنّت د الله — د هغه په خادِم ډير رَحمت د الله
د چا په دوست چه دي رَحمت د الله — د هغه په دُښمن دي لعنت د الله
په هغه ټولو اَهلِ مَحَبّت ډير ډير سلام

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، څوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِيمان)

## د درې خارجيانو د درې صحابه په باره كښې سازش

د دعوتِ اِسلامي د اشاعتي ادارې مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوي د ۱۹۲ صفحو كتاب "سَوانِحِ كربلا" صفحه ۷۶ نه ۷۷ كښې صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سيِّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نقل كوي چه: په خَوارِجو كښې يو نامُراده عبدُالرَّحمٰن بِن مُلجَم مُرادي، بُرَك بِن عبدُالله تمِيمي خارِجي او عَمرو بِن بُكَير تَمِيمي خارِجي په مَكَّهٔ مُكَرَّمه كښې راجمع كړل او د مولائے كائِنات حضرتِ سيِّدُنا عليِّ المُرتَضٰى، حضرتِ سيِّدُنا امير مُعاوِيه بِن اَبي سُفيان او حضرتِ سيِّدُنا عَمرو بِن عاص رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُم د قتل كولو مُعاهَده ئې اوكړه او د اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰى كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم د قتل كولو د پاره اِبنِ مُلجَم تيار شو او يو تاريخ مُعَيَّن (يعني مُقرَّر) كړې شو.

## د اِبنِ مُلجَم د بدبختئ سبب عِشق مجازي وو

په "مُستَدرَك" كښې دي چه اِبنِ مُلجَم د يوې خارِجِيَّه ښځې په عِشق كښې ګرفتار شوې وو، هغه ظالمې خارِجِيَّه ښځې د واده د پاره په مَهر كښې د درې زره دِرهَمو او نَعُوذُبِالله د حضرتِ علي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم د قتل مُطالبه كړې وه. (مُستَدرَك ج٤، ص١٢١، حديث٤٧٤٤) اِبنِ مُلجَم كُوفې ته اورسيدو او د هغه ځائ خوارِجو سره ئې مُلاقات اوكړو او هغوئې ته ئې د خپلې ناپاكه اِرادې پټ خبر وركړو نو هغوئې هُم د هغه سره مُتَّفِق شو.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليكي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

## د شهادت شپه

په دغه رَمَضَانُ الْمُبارك (٤٠هـ) كښې د هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم دا دَستور وو چه يوه شپه به ئې د حضرتِ سيِّدُنا اِمامِ عالي مُقام اِمام حُسين رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ سره، يوه شپه د حضرتِ سيِّدُنا اِمام حسن مُجتبٰی رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ سره او يوه شپه به ئې د حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله بِن جَعفَر رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ سره روژه ماتوله او د درې لُقمو [يعني درې نوَړو] نه به ئې زياته نه خوړله. او (د كم خوراك وجه بيانولو كښې) به ئې ارشاد فرمائيلو: ما ته دا ښه ښكاري چه "د الله تَعَالٰی سره د مُلاقات په وخت كښې زما خيټه تشه وي." د شهادت په شپه خو ئې دا حال وو چه ساعت په ساعت به ئې د كور نه بهر تشريف راوړو او د آسمان په لوري به ئې كتل او فرمائيل به ئې: وَالله جَلَّ جَلالُهٗ! ما ته يو خبر هُم د دروغو نه دې راكړې شوې، دا هُم هغه شپه ده د كومې چه وعده شوې ده. (لكه هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم ته چه د خپل شهادت د مخكښې نه عِلم وو)

(سَوانحِ كربلا ص٧٦، ٧٧ مُلَخَّصاً)

## قاتِلانه حَمله

د جُمُعې په شپه په ١٧ (يا ١٩) رَمَضَانُ الْمُبارك سن ٤٠ هجري د حَسَنَين كرِيمَين رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا والِد مُحترم اميرُ الْمُؤمِنين حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم د سحر په وخت كښې رابيدار شو،

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

مُؤَذِّن راغلو او د اَلصَّلوٰة اَلصَّلوٰة آواز ئې اوكړو! چنانچه هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم د نمانځه د پاره د كور نه روان شو، په لاره ئې خلقو ته د نمانځه صداګاني [يعني آوازونه] وركول او د جُمات طرف ته ئې تشريف وړلو چه ناڅاپه اِبنِ مُلجَم خارجي بدبخته په هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم د تُورې داسې ظالِمانه ګُزار اوكړو چه د هغې د سختئ او تيزئ په وجه د هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم تندې د غوږ د هډوكي پورې كټ شو او تُوره ئې دِماغو ته اورسيده. په دې كښې د څلورو واړو طرفو نه خلق په منډه منډه راغلل او هغه بدبخته خارِجي ئې اونيوو. د دې غمناكې واقعې نه دوه ورځې پس هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم شهيد شو. (تاريخُ الخُلَفاء ص١٣٩) د الله جَلَّ جَلَالُه دِ په هغوئي رَحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اِبنِ مُلجَم د بدن ټكړو ته ئې اور اولګولو

حضرتِ سيِّدُنا اِمام حسن، سيِّدُنا امام حُسين او سيِّدُنا عبدُالله بِن جَعفر رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُم هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم ته غُسل وركړو، حضرتِ سيِّدُنا امام حسن مُجتَبٰی رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ئې د جنازې د نمانځه جَمعه وركړه او دارُ الاِمارت كُوفه كښې ئې د شپې دفن [يعني خخ] كړو. خلقو د اِبنِ مُلجَم بدكِرداره بدن ټُكړې ټُكړې كړو او په يوه ټوكرئ كښې ئې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

واچوو او اور ئې ورته اولګولو او په سوزيدو سوزيدو خاورې او اِيرې شو. (اَیضاً)

## د مرګ نه پس د حضرتِ علي د قاتِل لړزوونکې حِکايت

د **دعوتِ اِسلامي** د اشاعتي ادارې **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** چاپ شوي کتاب "**فيضانِ سُنَّت**" دويم جِلد د ۵۰۵ صفحو کتاب "**غِيبَت کی تباه کاریاں**" صفحه ۱۹۹ کښې دي چه: عِصمه عَبَّاداني وائي چه: زه په يو ځنګل کښې ګرځيدم چه هلته ما يوه کِرجه [د عِيسايانو عِبادت خانه] اوليدله، په کِرجه کښې د يو راهِب خانقاه وه په هغې کښې موجود راهِب نه ما تپوس اوکړو چه په دې (وِيرانه) مُقام [يعني بيابان] کښې چه تا د ټولو نه زيات عجيبه خيز ليدلې وي هغه ما ته بيان کړه! نو هغه اووئيل چه: ما يوه ورځ دلته د شُتر مُرغ په شان يوه **ډيره غټه سپينه مرغۍ** اوليدله، هغه په هغه ګټ کښيناستله او قې [يعني اُلټۍ] ئې اوکړې، په هغې کښې ئې يو انساني سر اوګرځولو، هغه مسلسل اُلټۍ کولې او په هغې کښې انساني اندامونه راوتل او د بجلۍ په شان تيزۍ سره د يو بل سره يو ځائ کيدل تر دې چه هغه **پوره سړې** جوړ شو! هغه سړي چه څنګه د پاڅيدو کوشش اوکړو نو هغه **د ديو هُمره غټې مرغۍ** هغه په ټُونګه اووهو او ټُکرې ټُکرې ئې کړو او بيا ئې اوخوړو. ډيرو ورځو پورې ما دا خوفناك منظر ليدلو، زما يقين د **اللّٰه** جَلَّ جَلَالُهٗ په

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَرانِي)

قُدرت باندې نور زيات شو چه واقعي اللّٰهتَعَالٰی د وژلو نه پس په ژوندي کولو قادِر دې. يوه ورځ زه هغه د **ديو هُمره غټې مرغۍ** ته **مُتَوَجِّه** شوم او تپوس مې ترې اوکړو چه اے مرغۍ! زه تا ته د هٰغه ذات قَسَم درکووم چا چه ته پيدا کړې ئې! دا ځل چه هغه انسان پوره شي نو هغه لږ ساعت پريږده چه زه د هغه نه د هغه عمل معلوم کړم! نو هغه مرغۍ په فَصِيح عربۍ کښې اووئيل چه: "هُم زما د رب جَلَّ جَلَالُهٗ د پاره بادشاهي او بَقا ده، هر څيز فاني دې او هُم هغه باقي دې زه د هغه يو فرښته يم او په دې کس باندې مُسَلَّط کړې شوې يم چه ده ته د ده د گُناه مسلسل سزا ورکووم." چه کله په اُلټۍ کښې هغه انسان را اووتو نو ما د هغه نه تپوس اوکړو چه اے په خپل نفس باندې ظُلم کوونکې انسانه! ته څوک ئې او ستا څه قِصّه ده؟ هغه جواب راکړو چه: زه د (حضرتِ) علي (كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم) قاتِل عبدُالرَّحمٰن اِبنِ مُلجَم يم، چه کله زه مړ شوم نو د **اللّٰه** جَلَّ جَلَالُهٗ په بارګاه کښې زما رُوح حاضِر شو، هغه زما اعمال نامه ما ته راکړه، په هغې کښې زما د پيدائِش نه واخله د حضرتِ علي (كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم) د شهيد کولو پورې هره نيکي او بدي ليکلې شوې وه. بيا اللّٰهتَعَالٰی دې فرښتې ته حُکم اوکړو چه دا د قيامته پورې ما ته عذاب راکوي." دا ئې اووئيل او **چُپ** شو او هغه د ديو هُمره غټې مرغۍ هغه په ټُونګو اووهو او اوئې خوړو او لاړه. (شَرحُ الصُّدُور ص۱۷۵)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : د هغه كس پوزه دِې په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمِذِی)

# د شَهوت د منلو درد ناك انجام

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده! د مَولٰي علي، شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم د قاتِلِ خارِجي او بد دِينه او گُمراه كس څنګه درد ناك انجام اوشو! هغه بدنصيبه ولې دومره غتې ګُناه کولو ته تيار شو، څنګه چه مخکښې بيان کړې شوي دي چه هغه په يوه خارِجيَّه ښځه عاشِق شوې وو او هغه خارِجيَّه ښځې د واده مَهر دا مقرر کړې وو چه حضرتِ علي (كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم) به شهيد کوې. **افسوس!** په عِشقِ مجازي کښې اِبنِ مُلجَم ړُوند شوې وو او هغه د حضرتِ مَولٰی مُشکِل کُشا، علِیُّ المُرتَضٰی، شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم په شان هستي شهيد کړو، هغه بدکِرداره ته هغه ښځه چرې په لاس ورتلې شوه بلکه سمدستي ئې دا سزا هُم اوخوړه چه خلقو اونيوو، او آخِر دا چه د هغه بدن ئې ټُکړې ټُکړې کړو او په ټوکرئ کښې ئې واچوو او اور ئې ورته اولګوو او په سوزيدو سوزيدو خاورې او اِيرې شو! او د مرګ نه پس تر قيامته پورې د هغه د لړزوونکې عذاب په باره کښې هُم تاسو تذکِره واوريده. هغه بدبخته نه د هغې شو او نه د دې.

حضرتِ سيِّدُنا اَبُو درداء رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ بالکل رښتيا فرمائيلي دي چه ”د شهوت د لږ ساعت مَنل د اوګد غم سبب وي.“

(اَلزُّهدُ الکبير لِلبَيْهَقِی ص۱۵۷ حديث۳٤٤)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : كوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِكر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

## د صَحابَهٔ كِرَام شان

د صحابئ رسول حضرتِ سيِّدُنا اَبُو سعيد خُدري رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دې چه د نَبِيِّ كريم، رَءُوفٌ رَّحِيم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: "زما صحابه ته بد مه وائې ځكه چه كه په تاسو كښې څوك د اُحُد (غر) هُمره سره زر هُم خيرات كړي نو بيا به هُم نه د هغوئې يو مُد ته اورسي او نه نِيم ته." (بُخاری ج۲، ص۵۲۲، حديث۳۶۷۳)

جتنے تارے ہیں اُس چرخِ ذی جاہ کے
جس قدر ماہ پارے ہیں اُس ماہ کے
جانشیں ہیں جو مردِ حق آگاہ کے
اور جتنے ہیں شہزادے اُس شاہ کے
اُن سب اہلِ مکانت پہ لاکھوں سلام

خومره ستوري چه دي د هغه عزّتِ مآب
خومره دي چه پلوشې د هغه ماهتاب
خومره دي چه جانشين د مُصطفٰی
او خومره دي چه شهزادګان د هغه شاه
د هغه ټولو په شانِ عَظَمت ډير ډير سلام

مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې حديث نه لاندې فرمائي چه: په يو صاع كښې خلور مُد وي، او په يو صاع كښې پاؤ باندې خلور سيره وي نو يو مُد يو سير او نِيم پاؤ شو، يعني چه زما صحابي تقريباً پينځه پاوه وَربشې خيرات كړي او د هغوئې نه علاوه كه بل مسلمان كه هغه غوث يا قُطب وي يا

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

عام مسلمان وي او د غر هُمره سره زر خيرات كړي نو د هغه سره زر په قُربِ اِلٰهی جَلَّ جَلَالُهٗ [يعني د الله جَلَّ جَلَالُهٗ په نزديكت] او قبوليَّت كښې د صحابي پينځه پاوه وربشو ته نه شي رسيدې، هُم دا حال د روژې، نمانځه او د ټولو عبادتونو دې، چه د مسجدِ نَبَوي عَلٰى صَاحِبِهَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام نمونځ د نورو ځائيونو د نمونځونو نه پنځوس زره هُمره زيات دې نو چا چه د حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قُرب [يعني نزديكت حاصل كړې] او ديدار كړې دې د هغوئې د عبادتونو به څه وائې! د دې حديث نه دا هُم معلومه شوه چه د حَضَراتِ صَحابَۀ كِرَام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ذِكر هميشه ښه كول پكار دي، يو صحابي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ هُم په سپكو الفاظو مه يادوئ، دا حَضَرات هٰغه دي خوك چه **رب** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى د خپل **محبوب** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صُحبت د پاره خوښ كړي دي، يو مهربانه پلار خپل ځوئ د بدو په صُحبت كښې نه پرېږدي نو مهربانه **رب** جَلَّ جَلَالُهٗ به د خپل نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بدو په صُحبت كښې اوسيدل څنګه خوښ كړي.!

رسول اللہ طیّب اُن کے سب ساتھی بھی طاہِر ہیں
چُنیدہ بہرِ پاکاں حضرتِ فاروقِ اَعظم ہیں
رَسُولُ اللّٰه دې طَيِّب هُم ملګرې ئې ټول طاهِر دي
په هغه پاكو كښې يو ښكلې هُم فاروقِ اعظم دي

(مِراٰةُ المناجيح، ج ٨، ص ٣٣٥)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډېر نِزدې هٰغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلې وي. (تِرمِذِی)

## د مدني ماحول سره تړون ساتئ

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د ټولو صَحابَهٔ كِرَامو او اَهلِبَيتِ عِظام رِضْوَانُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْهِمْ اَجْمَعِيْن د حقيقي اُلفَت [يعني مَحَبَّت] او عقيدت سعادت اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ صرف د اَهلِسُنَّت په حِصَّه کښې راغلې دې. په دِين باندې د اِستِقامت حاصلولو او د صحابه او اَهلِبَيت عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د محبَّت حاصلولو او نورو ته د ښودلو او د اوليائے كرام د خصوصي بركتونو حاصلولو د پاره د "دعوتِ اسلامي" **د مَدَني ماحول سره هر وخت تړون** ساتئ ځکه چه د دې مَدَني ماحول سره تړون د دواړو جهانو د کاميابئ ذريعه ده. د دعوتِ اسلامي په خوشبوداره مَدَني ماحول کښې د غَلَطو اعمالو د سپيره والي او ګندونو نه نجات حاصليږي او په حق باندې د قائِم اوسيدو فِكر جوړيږي. ستاسو د ترغِيب او تحريص [يعني د نيكئ د حِرص راپيدا كولو] د پاره يو ايمان تازه كوونكې **مَدَني سپرلي** وړاندې كووم چنانچه

## د بدعقيدګئ نه توبه

د لطيف آباد حيدر آباد (بابُ الاسلام سندھ) يو اسلامي وررور څه داسې بيان كوي چه: د ځيني خلقو په صُحبت کښې د ناستې ولاړې په وجه زما ذِهن خراب شوې وو او ما د درې كالو پورې په نياز [يعني په بزرګانو پسې خيرات] او مِيلاد شريف وغيره باندې په

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

خپل کور کښې اِعتِراض کولو، ما به مخکښې د **دُرود شريف** سره ډېر شوق او مَحَبَّت لرلو خو د غلط صُحبت په وجه مې د دُرود شريف لوستلو جذبه ختمه شوه. اِتِّفاقاً ما يوه ورځ د دُرُود شريف لوستلو فضيلت اولوستو نو هغه جذبه مې بيا راژوندئ شوه او ما په کثرت سره د دُرُود شريف لوستلو مَعمول جوړ کړو. يوه شپه چه په دُرود شريف لوستلو لوستلو کښې اُوده شوم نو اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما ته په خوب کښې د شِين ګُنبد دِيدار نصيب شو او بې اختياره زما په ژبه اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَارَسُوْلَ الله جاري شو. سحر چه راپاڅيدم نو زړه مې بې قراره وو، او زه په دې سوچ کښې پريوتم چه آخِر حقه لاړ کومه ده؟ اِتِّفاقاً د **دعوتِ اِسلامي** والا د عاشقانِ رسُول د سُنَّتو د تربِيَّت يوه مَدَني قافِله زمونږ کور ته نزدې جُمات ته راغله نو چا ما ته په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو دعوت راکړو، ولې چه زه مُتَذَبذَب [يعني په شش و پنج کښې اخته] وم ځکه د حق د تلاش کولو په جذبه کښې د مَدَني قافِلې مسافر جوړ شوم. ما سپين پټکې په سر کړې وو خو د شنې عِمامې والؤ د مَدَني قافِلې والؤ د سفر په دوران کښې نه په ما د څه قِسم اِعتراض اوکړو او نه ئې راپورې ټوقې اوکړې بلکه زه ئې هډو پردې اُو نه ګڼړلم. اَمِيرِ قافِله راته د مَدَني اِنعاماتو تعارُف اوکړو او د هغې مطابق معمول ساتلو مشوره ئې راکړه. ما مَدَني انعامات [يعني د مَدَني اِنعاماتو رِساله] په غور اولوستله نو حيران شوم!

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هير کړل هغه د جَنَّت لاره هيره کړه. (طَبَرَانِي)

ځکه چه ما دومره زبردست مَدَني ګُلونه په ژوند کښې وړومبې ځل اولوستل. د عاشقانِ رسول د صُحبت او د مَدَني اِنعاماتو په بَرَکت په ما باندې د **اللّٰه** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فضل اوشو. ما د مَدَني قافِلې ټول مسافر راجمع کړل او اعلان مې اوکړو چه زه د پرون ورځې پورې بد عقيده ووم تاسو ټول ګواه اوسئ چه زه نن **توبه** کووم او د **دعوتِ اِسلامي** د مَدَني ماحول سره د تړون نِيَّت کووم. اسلامي وروڼړه په دې ډير زيات خوشحاله شو. بله ورځ مې د ديرشو روپو **نُکتي** (يو قِسم د انګور د دانې په شان واړه واړه رنګ په رنګ مټايان) را اُوغوښتل او د سرکارِ بَغداد حُضُورِ غَوثِ اعظم شيخ عبدُ القادر جِيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه نياز مې اوکړو [يعني په هغوئ رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه پسې مې خيرات اوکړو] او په خپلو لاسو مې تقسيم کړل. زه د ۳۵ کالو نه د ساه په مرض کښې اخته ووم، يوه شپه به مې هُم د تکليف نه بغير نه تيريدله او زما د بِنې طرف ته جامنې په غاښونو به درد وو چه د هغې په وجه به ما صحيح خوراك هُم نه شو کولې. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د مَدَني قافلې په بَرَکت د سفر په دوران کښې ما ته د ساه هيڅ قِسم تکليف نه دې پيښ شوې او اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه په ښئ جامنه بغير د څه تکليفه خوراك هم کووم. زما زړه ګواهي ورکوي چه **عقائِدِ اَهلِسُنَّت** حق دي او زما نيك ګُمان دې چه د **دعوتِ اِسلامي** مَدَني ماحول د **اللّٰه** تَعَالٰى او د هغه د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې قبول دې.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

چھائے گر شَیطَنت، تو کریں دیر مت　　قافلے میں چلیں، قافِلے میں چلو
صُحبتِ بد میں پڑ، کر عقیدہ بگڑ　　گر گیا ہو چلیں، قافِلے میں چلو

که شيطان وي زورَوَر، بـيا هُم اوکړئ سفر
قافلو کښې لاړ شئ قافلو کښې لاړ شئ
عقائد مو که بد، صحبت کښې شوي وي بد
قافلو کښې لاړ شئ قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿د غيرُالله نه د مدد غوښتلو په باره کښې سوال او جواب﴾

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! ځينې خلق د الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰى نه سِوا د نورو نه د مدد غوښتلو مُتَعَلِّق په وسوسو کښې اخته اوسي، د هغوئي د پوهه کولو د کوشش کولو ثواب ګټلو په ښو ښو نِيَّتونو يو څو سوال او جواب وړاندې کووم، که د يو ځل لوستلو سره مو تَسلي اونشي نو درې ځله ئې اولولئ، اِنۡ شَآءَالله تَعَالٰى اِنشِراحِ صدر به مو اوشي يعني سِينه به مو خلاصه شي او خبره به مو زړه ته پريوځي، وَسوَسې به مو لرې شي او د زړه اِطمينان به درنصيب شي.

## حضرتِ علي ته مُشکِل کُشا وئيل څنګه دي؟

سوال (۱): حضرتِ علي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجۡهَهُ الۡكَرِيۡم ته مُشکِل کُشا وئيل څنګه دي؟ آيا صِرف الله تَعَالٰى مُشکِل کُشا نه دې؟

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

**جواب:** د مُشکِل کُشا معنٰی ده: ''مُشکِل حل کولو والا، په مُشکِلاتو کښې مدد کولو والا.'' بيشکه په حقيقي معنو کښې صرف اللّٰه تَعَالٰی **مُشکِل کُشا** دې، خو د هغه په عطا [يعني د هغه په ورکړه] انبياء، صحابه او اولياء بلکه عام بندګان هُم مُشکِل کُشا او مددګار کيدې شي د دې يو عام مِثال دا دې چه په پاکستان کښې ځائ په ځائ بورډونه لګيدلي دي ''**مددګار پوليس فون نمبر 15**'' هر يو ته معلومه ده چه پوليس د غلو او ډاکوانو وغيره نه د حفاظت، د دُښمنانو نه د خطرې په وخت کښې او په نورو مُشکلو موقعو باندې **مُشکِلکُشائي** يعني مدد کولې شي. د مَکَّهٔ مُکَرَّمه نه چه کوم صَحابَهٔ کِرَام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان مدينهٔ مُنَوَّره ته اورسيدل د هغوئي نُصرت (يعني مدد) کولو والا صَحابَهٔ کِرَام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د ''انصار'' په نوم ياديږي او د انصار معنٰی مددګار ده. د دې نه علاوه هُم د دې بيشميره مِثالونه موجود دي نو چه پوليس مُشکِلکُشا، سماجي کارکُن حاجَت روا، څوکيدار مددګار او قاضي فرياد رس [يعني مدد کوونکې] کيدې شي نو د اللّٰه تَعَالٰی په عطا حضرتِ مَولٰی علي شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم مُشکِل کُشا ولې نه شي کيدې!

کہہ دے کوئی گھیرا ہے بلاؤں نے حسنؔ کو
اے شیرِ خدا بہر مدد تیغ بکف جا

څوک اووائي هغه ته چه ګير شوې مصيبت کښې دې حسن
اے شيرِ خُدا ورشه مدد ته تُوره په لاس

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

## ”مَولٰی علي“ وئيل څنګه دي؟

**سوال (٢)**: مولانا [صاحب] بخښنه غواړم، اوس تاسو ”مَولٰی علي“ اووئيلو، حالانکه ”مَولٰی“ خو صرف د الله جَلَّ جَلَالُهٗ ذات دې.

**جواب**: بیشکه په حقيقي معنو کښې صرف اللهتَعَالٰی ”مَولٰی“ دې خو مجازاً (يعني غير حقيقي) معنو کښې بل ته هُم ”مَولٰی“ وئيلو کښې څه باك نشته. نن صبا عُلَمائے کرامو بلکه عام طور هر کِيرې والا کس ته خلق **مولانا** وائي، کله تاسو د ”مَولانا“ په معنٰی غَور [او فِکر] کړې دې؟ که نه مو وي کړې نو واورئ، د مَولانا معنٰی ده: ”زمونږه مَولٰی“، اوګورئ په دې سوال کښې هُم ”مَولانا“ اووئيل شو! چه عام سړي ته هُم په مَولانا يعني ”زمونږه مَولٰی“ وئيلو کښې څه وَسوَسه نه درځي نو آخِر په ”مَولٰی علي“ وئيلو کښې ولې وَسوَسه درځي! اَعُوْذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ اولولئ او شيطان اوزغلوئ او تسلِّي ساتئ چه په ”مَولٰی علي“ وئيلو کښې هيڅ باك نشته بلکه حضرتِ سيِّدُنا علي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم ته د ”مَولٰی“ وئيلو خو په حديث کښې هم صَراحَت موجود دې چنانچه واورئ او د حضرتِ علي مَحبَّت په زړه کښې نور زيات کړئ:

## د چا چه زه مَولٰی يم د هغه علي هُم مَولٰی دې

زمونږه خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ يعني د چا چه زه مَولٰی يم علي هُم د هغه مَولٰی دې.

(تِرمِذِی ج٥، ص٣٩٨ حديث٣٧٣٣)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو كښې ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

# د "مَولٰی علي" معنٰی

مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې حديثِ پاك د دې الفاظو "د چا چه زه مَولٰی يم علي هُم د هغه مَولٰی دې" نه لاندې فرمائي: د مَولٰی ډيرې معنې دي: دوست، مددګار، آزاد شوې غُلام، (د غُلام) آزادولو والا مَولٰی. په دې (حديث پاك كښې د مَولٰی) معنٰی خليفه يا بادشاه نه ده، دلته د (مَولٰی) معنٰی دوست (او) مَحبُوب ده، يا د مددګار په معنٰی [كښې دې] او واقِعي حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم د مسلمانانو دوست هُم دې، مددګار هُم دې، ځكه هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم ته "مَولٰی علي" وائي. (مِراٰةُالمناجيح ج٨، ص٤٢٥) په قُرآنِ مَجِيد كښې اللّٰه تَعَالٰى او جبريلِ اَمِين او نيكو مُؤمِنانو ته "مَولٰی" وئيلې شوې دې. چنانچه پاره ٢٨ سُورَةُالتَّحرِيم آيت نمبر ٤ كښې رب تَعَالٰى فرمائي:

فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ مَوْلٰىهُ وَ جِبْرِيْلُ وَ صَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ

[مفهوم] تَرجَمۂ كَنزُالْاِيمَان: نو بيشكه اللّٰه د هغوئي مددګار دې او جِبرِيل او نيك اِيمانداران.

کہا جس نے یاغوث اَغِثنی تو دَم میں
ہر آئی مصیبت ٹلی غوثِ اعظم
(سامانِ بخشش)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمْعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کَنزُ العُمّال)

چا چه اووئيل مُصيبت کښې اَغِثْنِي يا غوث
مصيبت ئې هر يو لاړو يا غوثِ اعظم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مُفَسِّرِينو په نزد د "مولٰى" معنٰى

**سوال (۳):** تاسو د مَولٰی معنٰی "مددګار" ليکلې ده آيا نور مُفَسِّرِين هُم د دې سره اِتِّفاق کوي؟

**جواب:** ولې نه. د کَنزِ شمير تفسِيرونو حوالې شته دې د نمونې د پاره د تفسِير د شپږو کتابونو نمونه اُوګورئ چه په کومو کښې د دې آيتِ مُبارکه د لفظ "مَولٰی" معنٰی وَلِی او ناصِر (يعني مددګار) ليکلې شوي ده: (۱) تفسِيرِ طَبَری جِلد۱۲ صفحه۱۵٤ (۲)تفسِيرِ قُرطُبِي جِلد ۱۸ صفحه ۱٤۳ (۳)تفسِيرِ کَبِير جِلد۱۰ صفحه۵۷۰ (٤)تفسِيرِ بَغوِی جِلد٤ صفحه۳۳۷ (۵)تفسِيرِ خازِن جِلد٤ صفحه۲۸٦ (٦)تفسِيرِ نَسفِي صفحه۱۲۵۷. د هغه څلورو کتابونو نمونه هُم حاضِر دې په کومو کښې چه د دې آيتِ مبارکه د لفظ "مَولٰی" معنٰی "ناصِر" (يعني مددګار) شوي ده: (۱)تفسِيرِ جَلالَين ص٤٦٥ (۲)تفسِيرِ رُوحُ المَعَانِي جِلد۲۸ صفحه٤۸۱ (۳)تفسِيرِ بَيضاوِی جِلد۵ صفحه۳۵٦ (٤)تفسِيرِ اَبِـی سَعُود جِلد۵ صفحه۷۳۸.

يا خدا بهرِ جنابِ مصطفٰے امداد کن
يارسول اللہ از بهرِ خدا امداد کن

(حَدائِقِ بخشش شريف)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترخو

اِلٰهي زما مدد اوکړې په خاطر د مصطفٰی
یا نبي را اورسيږئ په خاطر د کِبريا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ”اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ“ بهترينه تشرِيح

سوال (٤): سُوْرَةُ الْفَاتِحَه کښې دي: اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ۝ يعني مونږ هُم ستا نه مدد غواړو. لِهٰذا د بل چا نه مدد غوښتل خو شرك شو؟

جواب: په ذِكر شوي آيتِ كريمه کښې د مدد نه مُراد حقيقي مدد دې يعني الله تَعَالٰى ته د حقيقي كارساز په طور عرض كيږي چه: اے رَبِّ كرِيم! ”مونږ هُم ستا نه مدد غواړو“ پاتې شو د بندګانو نه مدد غوښتل نو هغه صرف د فيضِ اِلٰهی د واسِطې [يعني وسِيلې] په طور دې. څنګه چه په پاره ١٢ سُوْرَهٔ يُوْسُف آيت نمبر ٤٠ کښې دي: اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ ([مفهوم] تَرجَمَهٔ كَنْزُالْاِيْمَان: حُكم نه دې مګر د الله) او په پاره ٣ سُوْرَةُ الْبَقَرَه آيت ٢٥٥ کښې فرمائي: لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِي الْاَرْضِ ؕ ([مفهوم] تَرجَمَهٔ كَنْزُالْاِيْمَان: هُم د هغه دي کوم څه چه په آسمانونو کښې دي او کوم څه چه په زمکه کښې دي) او مونږه حكام [يعني فيصله كوونكي] حَكَم (يعني فيصله كولو والا) هُم منو او د خپلو څيزونو د مِلكِيت دعوٰی هُم كوو [يعني چه دا څيزونه زمونږه دي] يعنی د دې آيتونو نه مُراد حقيقي حَكَم (يعني فيصله كوونكې) او حقيقي مِلكِيَّت دې، خو د بندګانو د پاره

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

[دا څيزونه] د الله په عطا [يعني ورکړه دي]. (جاءالحق ص۲۱۵) په ډيرو مُقاماتو کښ قُرآنِ مَجِيد غيرُالله مدد کوونکي ګرځولي دي، په دې باره کښ څلور آياتِ مباركه اوګورئ:

1 وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ (پ۱، البقرہ:۴۵) [مفهوم] تَرجَمۂ كَنْزُالْاِيْمَان: او د صبر او نمانځه نه مدد اوغواړئ.

آيا صبر خُدائے دې؟ چه د هغې نه د مدد غوښتلو حُکم شوې دې. آيا نمونځ خُدائے دې؟ چه د هغې نه د مدد غوښتلو اِرشاد شوې دې. په بل آيت کښ فرمائي:

2 وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى [مفهوم] تَرجَمۂ كَنْزُالْاِيْمَان: او په نيکئ او پرهيزګارئ د يو بل مدد اوکړئ. (پ٦، المآئِدہ:۲)

که د غيرِ خُدا نه مدد اغستل مُطلقاً مُحال دې (يعني په هيڅ صورت کښ نه شي کيدې) نو (په دې آيتِ مباركه کښ ارشاد شوې) د دې حُکمِ اِلٰهى څه مطلب دې؟

3 اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَ يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَ هُمْ رٰكِعُوْن (پ٦، المآئِدہ:۵۵) [مفهوم] تَرجَمۂ كَنْزُالْاِيْمَان: ستاسو دوستان نه دي خو الله او د هغه رسول او اِيمان والا چه نمونځ قائموي او زکوٰة ورکوي او د الله په حضور کښ ښکته شوي دي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلٰى)

4 وَ الْمُؤْمِنُوْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۘ [مفهوم]تَرجَمهٔ كَنْزُالْاِيْمَان: مسلمانان نارينه او مسلماني زنانه د يو بل رفيق دي.

(پ۱۰، التوبه:۷۱)

د دې آيتِ مباركه تفسير داسې شوې دې: ''او په خپل مينځ كښې ديني مَحَبَّت او اِتّحاد ساتي او د يو بل مُعِين او مددګار دي.'' (خَزَائِنُ الْعِرفان، پ۱۰، التوبه۷۱) د صحيح اسلامي عقيدې مطابق، كه څوك د انبيائے كرام او اوليائے كرام نه مدد اوغواړي او دا عقيده لري چه هغوئي د الله جَلَّ جَلَالُهٗ د اِجازت نه بغير پخپله د فائدې او نقصان مالِكان دي نو دا يقيناً شِرك دې او كه د دې برخِلاف كه څوك حقيقي مددګار او د فائدې او نُقصان حقيقي مالِك اللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ مني او مجازاً (يعني غير حقيقي طور) او صرف په عطائے اِلٰهی [يعني د الله جَلَّ جَلَالُهٗ په وركړې شوي طاقت] ئې مددګار ګڼړي او مدد ترې اوغواړي نو بِالكل شِرك نه دې او هُم دا زمونږه عقيده ده.

بهرحال د سُوْرَةُ الفاتِحه آيتِ مباركه (اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ يعني مونږه صرف ستا نه مدد غواړو) حق دې، خو د شيطان دِ كور وران شي چه هغه خلقو ته وسوسې وراچوي او په غلط فهمئ كښې ئې اخته كوي. غور اوكړئ! په آيتِ مباركه كښې د ژوندي او مړ وغيره د تخصيص كولو نه بغير مُطلقاً يعني په هر حال كښې د الله تَعَالٰى نه سِوا د بل نه د

www.dawateislami.net

مدد غوښتلو نه انكار شوي دي. د آيتِ مباركه د ظاهري او لفظي معنٰى په اِعتِبار كومه [معنٰى] چه "اَهلِ وسوسه" كنړي، بل څوك خو پريږده هغوئي ټخپله هُم د "شِرك" نه نه شي بچ كيدې مثلاً يو دروند [يعني وزندار] كيډې په زمكه پروت دې او اوچتولې ئې نه شي او چا ته ئې غږ اوكړو چه: "مهرباني اوكړئ! د دې په اوچتولو كښې زما لږ مدد اوكړئ چه په شا ئې كړم." د دې وسوسې مطابق دا شِرك شو كه نه؟ ضرور [شِرك] شو. داسې زرګاؤ مثالونه وړاندې كيدې شي، بس هر طرف ته د غيرِخُدا د اِمدادونو نظارې دي. مثلاً اِنفاق فِیْ سَبِیْلِ الله يعني د الله په لار كښې د [مال] خرچ كولو په كثرت سره اصل مقصد "د يو بل سره اِمداد كول" دې! په دې باره كښې صدقه او خيرات، فِطره او زكوٰة، د جُماتونو او مدرسو د پاره چندې او عطيات جمع كول، د قربانئ د څاروو د څرمنو غوښتل او د سماجي ادارو وغيره وغيره ټول مقصد اِمداد، اِمداد او صرف اِمداد خو دې! لږ نور مخكښې لاړ شئ نو د مظلومانو د مدد د پاره عدالت دې، د مريضانو د اِمداد د پاره طبابت، په ملك كښې دننه خلقو د اِمداد د پاره د پوليس انتظام دې، د بيروني دُښمنانو نه د حِفاظت د پاره فوجي طاقت دې، د اولاد په پالنه كښې د مور و پلار د مدد ضرورت دې او د هغوئي د تعليم او تربِيَّت د پاره د تعليم ګاه [يعني د تعليم د ځائ] حاجت دې.الغرض په دُنيا كښې قدم په قدم د غيرُالله د مدد او

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، څوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِیمان)

ملګرتيا ضرورت دې بلكه د مرګ نه پس هم كفن دفن د غيرُالله د مدد نه بغير نه شي كيدې، بيا د قيامته پورې د اِيصالِ ثواب په ذريعه د مدد حاجت دې او په آخرت كښې هم د ټولو نه د اَهَم مدد ضرورت دې يعني د خوږ نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت [ضرورت دې]. دا ټول د غيرُالله مددونه دي ـــ

آج لے ان کی پناہ آج مدد مانگ ان سے
پھر نہ مانیں گے قیامت میں اگر مان گیا

(حَدائِقِ بخشِش شریف)

اوغواړه نن د هغوئي پناه، اوغواړه نن د هغوئي نه مدد
كه په قيامت كښې اُومنل تا، بيا به هغوئي نه مني

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د غيرِ خُدا نه د مدد غوښتلو په اَحادِيثِ مباركه كښې ترغِيب

سوال (۵): د غيرُالله نه د مدد غوښتلو په ترغيب باندې مُشتمل يو څو حديثونه هُم بيان كړئ.

**جواب:** د غيرِ خُدا نه د مدد غوښتلو په ترغيب باندې مشتمل دوه **فرامِينِ مصطفٰی** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **اوګورئ:** ﴿۱﴾ زما د رحم دِلو اُمَّتيانو [يعني د چا په زړه كښې چه رَحم وي د هغوئي] نه د خپلو حاجتونو سوال اوكړئ رِزق به اومومئ. (اَلْجَامِعُ الصَّغِیر لِلسُّیُوطی ص۷۲ حدیث۱۱۰۶) ﴿۲﴾ "بنيګړه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، څوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

او خپل حاجتونه د بنو مخونو والا نه اوغواړئ.“ (اَلْمُعْجَمُ الْكَبِير لِلطَّبَرانى ج١١ ص٦٧ حديث ١١١١٠) اللّٰه تَعَالٰى فرمائي: فضل زما د رحم دِله بندګانو [يعني د چا په زړه كښې چه رَحم وي د هغوئي] نه اوغواړه، د هغوئي په لَمَن كښې به په آرام اوسيږئ ځكه چه ما خپل رحمت په هغوئي كښې اِيښې دې. (مُسنَدالشَّهاب ج١ ص٤٠٦ حديث ٧٠٠)

## نابِينا ته سترګې وركړې شوې

د حضرتِ سيِّدُنا عُثمان بن حُنيف رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دې چه يو نابِينا صحابي رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په باركاهِ رِسالت كښې عرض اوكړو چه: د الله تَعَالٰى نه دُعا اوغواړئ چه ما ته عافِيَّت [خير يعني بينائي] راكړي. [نبِيّ اكرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] اِرشاد اوفرمائيلو: ”كه ته غواړې چه دُعا اوكړم او كه غواړې نو صبر اوكړه او دا ستا د پاره بهتر دې.“ هغوئي عرض اوكړو: حُضُور! دُعا اوكړئ. هغوئي ته ئې حُكم اوفرمائيلو چه اودس اوكړه او ښه اودس اوكړه او دوه ركعاته نمونځ اوكړه او دا دُعا اوغواړه: اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَسْئَلُكَ اَتَوَسَّلُ وَاَتَوَجَّهُ اِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ نَّبِيِّ الرَّحْمَةِ يَامُحَمَّدُ اِنِّيْ تَوَجَّهْتُ بِكَ اِلٰى رَبِّيْ فِيْ حَاجَتِيْ هٰذِهٖ لِتُقْضٰى لِيْ اَللّٰهُمَّ فَشَفِّعْهُ فِيَّ اے الله (عَزَّوَجَلَّ) زه تا نه سوال كووم او تَوَسُّل (يعني وسيله پيش) كووم او ستا طرف ته مُتَوَجِّه كيږم ستا د نبي محمد (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په ذريعه چه هغوئي نبِيّ رَحمت دې. يَـا مُـحَـمَّـد (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) زه ستاسو په

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

ذریعه د خپل رب (عَزَّوَجَلَّ) طرف ته د خپل حاجت په باره کښې مُتَوَجّه کیږم د پاره د دې چه زما دا حاجت پوره شي. یا الله! د هغوئي شفاعت زما په حق کښې قبول کړې. حضرتِ سیِّدُنا عُثمان بِن حُنَیف رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: قَسَم په خُدائے تَعَالٰی! مونږه لا پاڅیدلي هُم نه وو، لا خبرې مو کولې چه هغه زمونږ خوا ته راغلو لکه کله چه هډو نابینا نه وو!"

(بَهارِ شرِیعَت ج۱ ص۶۸۵ ،اِبنِ ماجه ج۲، ص۱۵۶ حدیث ۱۳۸۵، (تِرمِذِی ج۵ ص۳۳۶حدیث۳۵۸۹، اَلمُعجَمُ الْکَبِیر لِلطَّبَرانی ج۹ ص۳۰ حدیث۸۳۱۱)

## د "یارَسُولَ اللّٰه" والا دُعا په بَرَکت کار سَم شو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې حدیثِ مبارکه نه د لرې نه د "یا رَسُولَ اللّٰه" وئیلو اجازت ثابتیږي ځکه چه هغه صحابي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ جُدا په کوم یو کُوټ کښې پټ پټ "یارَسُولَ اللّٰه" وئیلي دي! او حق دا دي چه دا اِجازت د هغه "نابینا صحابي" د پاره مخصوص نه وو بلکه د ظاهِري وفات نه واخله د قیامته پورې د دې برکتونه موجود دي. حضرتِ سیِّدُنا عُثمان بِن حُنَیف رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ د امیرُ الْمُؤمِنِین، جامِعُ القُرآن حضرتِ سیِّدُنا عُثمان بِن عَفَّان رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ په زمانهٔ خِلافت کښې هُم دا دُعا یو حاجت مند ته ښودلي وه. په "طبرانی" کښې دي چه: یو کس د خپل یو ضرورت د پاره د حضرتِ سیِّدُنا **عُثمان بِن حُنَیف** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ په خِدمت کښې حاضر شو، هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ ورته اوفرمائیل چه: اودس اوکړه بیا په جُمات کښې دوه رکعاته نمونځ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

ادا كړه بيا دا دُعا اوغواړه: (هُم هغه دُعا ئې ورته اُوښودله كومه چه اوس په حديثِ پاك كښې په صفحه نمبر ۷۴ تيره شوه) او ورته ئې اوفرمائيل چه د دې دُعا د آخِري لفظ حَاجَتِيْ په ځائ د خپل حاجت نوم واخله. هغه سړې لاړو او هغه ته چه ښكه وئيلي شوي وو هُم هغسې ئې اوكړل او د هغه حاجت پوره شو. (اَلمُعْجَمُ الْكَبِير ج۹ ص۳۰ حديث۸۳۱۱ مُلَخَّصاً)

## د وفات نه پس آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم مدد اوكړو

د حضرتِ سيِّدُنا اِمام بُخاري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه مُحترم اُستاد حضرتِ اِمام اِبنِ شَيبه رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي چه: د اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ په دَورِ خِلافت كښې قحط راغې، يو صاحِب د حُضُورِ انور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم روضې مباركې ته حاضِر شو او عرض ئې اوكړو چه: يارَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت د پاره باران اوغواړئ، ځكه چه خلق هلاك كيږي.“ جنابِ رِسالت مآب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه كس په خوب كښې تشريف راوړو او اِرشاد ئې ورته اوفرمائيلو چه: د عُمر خوا ته ورشه، زما سلام ورته اورسوه او هغوئي ته خبر وركړه چه باران به اوشي. (مُصَنَّف اِبنِ اَبِي شَيبه ج۷ ص۴۸۲ حديث۳۵ مُختصراً) هغه صاحِب صحابئِ رسول حضرتِ سيِّدُنا بِلال بن حارِث رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ وو. حضرتِ سيِّدُنا اِمام اِبنِ حجر عسقلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي چه: دا رِوايت اِمام اِبنِ شَيبه رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د صحيح اَسنادو سره بيان كړې دې. (فتحُ البارى ج۳ ص۴۳۰ تَحتُ الحديث ۱۰۱۰)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعي په شپه او د جُمعي په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَرَاني)

غم و آلام کا مارا ہوں آقا بے سہارا ہوں
مری آسان ہو ہر ایک مشکل یا رسولَ اللہ!
(وسائلِ بخشش ص ۱۳۴)

غم او افسوس وهلې يم، ډير بې وَسه يم آقا
زما آسان کړئ هر يو مُشکِل يارَسُولَ الله

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## اے د الله بندګانو! زما مدد اوکړئ

**سوال (٦):** که څوك په ځنګل او بيابان کښې په مُشکِلاتو کښې اونښلي نو د نجات حاصلولو د پاره څه اوکړي؟

**جواب:** د الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰى په بارګاه کښې دِ په زارئ او فرياد دُعا اوکړي ځکه چه په حقيقت کښې هُم هغه حاجت روا او مشکِل کُشا دې او په حُسنِ اعتِقاد [يعني پوخ يقين] دِ د سرورِ کائِنات صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حقيقي تعليماتو عمل اوکړي. د داسې موقعې د پاره څه تعليمات دي هغه هُم اوګورئ چنانچه د نبيِّ پاك صاحِبِ لَولاك صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: چه کله په تاسو کښې د چا څه څيز ورك شي يا لاره هيره کړي او هغه مدد غواړي او په داسې ځائې کښې وي چه هلته [ئې] هيڅ همدم [يعني يار و مددګار] نه وي نو هغه ته پکار دي چه داسې او وائي: ''يَاعِبَادَاللهِ اَغِيْثُوْنِي يَاعِبَادَاللهِ اَغِيْثُوْنِي اے د الله (جَلَّ جَلَالُهٗ) بندګانو! زما مدد اوکړئ، اے د الله (جَلَّ جَلَالُهٗ) بندګانو! زما مدد

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمِذِی)

اوکړئ." ځکه چه د اللّٰه (جَلَّ جَلَالُہٗ) څه بندګان دي چه دې هغوئي نه وِيني. (اَلْمُعْجَمُ الْکَبِیر لِلطَّبَرانی ج۱۷، ص۱۱۷ حدیث ۲۹۰)

د کروړاؤ حَنَفیانو یو پیشوا حضرتِ سیِّدُنا عَلّامه علي قاري رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د بیان شوي حدیثِ پاك نه لاندې لیکي: ځیني ثِقَّه (یعني قابِلِ اعتِماد) عُلَمائے کِرامو رَحِمَهُمُ اللّٰہ تَعَالٰی فرمائیلي دي چه دا حدیثِ پاك حَسَن دې او مسافرو ته د دې ضرورت پیښیږي، او د مَشائِخ کرام رَحِمَهُمُ اللّٰہ تَعَالٰی نه رِوایت دي چه دا اَمر مُجَرَّب (یعني تجربه شوې) دې.

(مِرقاۃُ الْمفاتیح ج۵ ص۲۹۵)

## که په ځنګل کښ خاروې اوتښتي نو.....

د خَاتَمُ النَّبِیّین، رَحْمَۃٌ لِّلْعٰلَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: چه کله په تاسو کښ د کوم یو [کس] سوَرلۍ (یعني اَس وغیره ځناور) په ویرانه زمکه [یعني شړه بیابان] کښ اوتښتي نو داسې دِ اووائي: "یَاعِبَادَاللّٰہِ! اِحْبِسُوْا، یَاعِبَادَاللّٰہِ! اِحْبِسُوْا یعني اے د اللّٰه (جَلَّ جَلَالُہٗ) بندګانو! [دا] اودروئ، اے د اللّٰه (جَلَّ جَلَالُہٗ) بندګانو! [دا] اودروئ." د اللّٰه (جَلَّ جَلَالُہٗ) څه بندګان د اودرولو والا دي چه هغوئي به هغه اودروي.

(مُسنَدِ اَبی یَعلٰی ج۴ ص۴۳۸ حدیث ۵۲۴۷)

## چه کله د اُستادِ مُحترم سوَرلۍ اوتښتیده!

شارِحِ مُسلِم حضرتِ سیِّدُنا اِمام نَوَوِي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: زما یو استادِ مُحترم چه ډیر غټ عالِم وو، یو ځل په صحرا [یعني په بیابان]

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمذی)

کښې د هغوئي سوَرلئ او تښتيده، هغوئي ته د دې حديثِ پاك عِلم وو، هغوئي دا کَلِمات اووئيل (يعني دوه ځله ئې اووئيل: يَاعِبَادَاللهِ!اِحْبِسُوْا،يَاعِبَادَ اللهِ!اِحْبِسُوْا يعني اے د الله (جَلَّ جَلَالُهٗ) بندګانو! دا اودروئ) نو الله تَعَالٰی هغه سوَرلئ هُم هغه وخت اودروله. (الاذكار ص١٨١)

آپ جیسا پیر ہوتے کیا غَرَض دَر دَر پھروں
آپ سے سب کچھ ملا یا غوثِ اعظم دستگیر

ستاسو په شان پیر چه لرم ولې به ګرځيږم در په در
هر څه خو راکړي دي هُم تاسو يا غوثِ اعظم دستګِير

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د الله د بندګانو نه مُراد کوم خلق دي؟

سوال (۷): په څنګل کښې چه د **الله** جَلَّ جَلَالُهٗ د بندګانو نه د مدد غوښتلو ترغيب ورکړې شوې دې نو دلته د **الله** د بندګانو نه مُراد کوم خلق دي؟

**جواب:** حضرتِ سيّدُنا عَلّامه علي قاري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د حِصنِ حَصِين په شرح "اَلْحِرْزُ الثَّمِين" صفحه ٢٥٤ کښې فرمائي چه: "دلته د بندګانو نه يا خو فرښتې يا مسلمانان پيريان يا رِجالُ الغَيب يعني اَبدال مُراد دي."

بے یارو مددگار جنہیں کوئی نہ پوچھے
ایسوں کا تجھے یارو مددگار بنایا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

د بې يارو بې اسره چه څوك ئې نه كوي تپوس
د داسې خلقو مددګار ئې ګرځولې ئې ته

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مړي نه مدد ولې اوغواړو؟

**سوال (٨):** دا خو مو اُومنله چه ژوندي د يو بل مدد كولې شي، په ځنګل كښې د بندګانو نه مدد غوښتلو باندې هُم پوهه شو ځكه چه نن صبا خو په ځنګل كښې اكثر د پوليس موبائِل هُم د مدد د پاره موجود وي اګر چه په حديثِ پاك كښې پوليس مُراد نه دي خو بيا هُم بنده د هغوئې نه مدد حاصلولې شي او د موبائِل فون په ذريعه هُم څوك د مدد د پاره راغوښتلې شي، خو د مړي نه څنګه مدد اوغواړي؟

**جواب:** څوك چه واقعي مړې وي د هغه نه بيشكه مدد غوښتل نه دي پكار، مګر انبياء او اولياء خو د [د دُنيا نه] پرده كولو نه پس هُم ژوندي وي نو دغسې مونږه د ژوندو نه مدد غواړو. دا حضرات ژوندي وي، د دې دلائِل اوګورئ:

## انبياءِ كِرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام ژوندي دي

په انبياءِ كِرامو عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام باندې صرف لږ ساعت مرګ راځي بيا فوراً هغوئې ته هُم هغسې ژوند وركړې شي څنګه چه په دُنيا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډير نِزدې هٰغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذِی)

كښې وو. د انبياءِ كِرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام حيات (يعني د عالَمِ بَرزَخ ژوند) روحاني، جِسماني او دُنياوي دي، (دا حَضَراتِ انبياء) بِعَينِهٖ [يعني بالكل] هُم هغسې ژوندي وي، څنګه چه په دُنيا كښې وو." (فَتَاوٰی رَضَوِیّه ج٢٩، ص٥٤٥) د حُضُورِ پاك صاحِبِ لَولاك صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دي:

اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَى الْاَرْضِ اَنْ تَاْكُلَ اَجْسَادَ الْاَنْبِيَاءِ فَنَبِيُّ اللّٰهِ حَيٌّ يُّرْزَقُ

يعني اللّٰه تَعَالٰی د انبيا بدنونه په خاوره حرام كړي دي، د الله نبيان ژوندي اوسي، هغوئي ته رِزق وركولې كيږي. (سُنَنِ اِبنِ ماجه ج٢ ص٢٩١ حديث ١٦٣٧) معلومه شوه چه انبياءِ كرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام ژوندي دي او د صحيح حديث مبارك نه دا هُم ثابت دي چه حج ادا كوي او په خپلو خپلو مزاراتو كښې نمونځونه هُم كوي، چنانچه د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دي چه رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلي دي: اَلْاَنْبِيَاءُ اَحْيَاءٌ فِيْ قُبُوْرِهِمْ يُصَلُّوْنَ يعني انبياء په خپلو قبرونو كښې ژوندي دي، نمونځ كوي. (مُسنَدِ اَبِی يَعلٰی ج٣، ص٢١٦، حديث ٣٤١٢)

حضرتِ سيِّدُنا اِمام مُناوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي چه: "دا حديث صحيح دي." (فَيضُ القدِير ج٣ ص٢٣٩) عُلَماءِ كرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى فرمائي چه بعضې وختونه انسان مُكَلَّف (يعني پابند) نه وي خو بيا هُم د لُطف [يعني خوند] حاصلولو د پاره اعمال كوي، لكه د انبياءِ كرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام په خپلو قبرونو كښې نمونځ ادا كول حالانكه (صرف دُنيا دارُ العَمل ده آخِرت دارُالعمل (يعني د نيكئ كولو ځائ) نه دي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي۔ (مُسلِم)

## حضرتِ سيِّدُنا مُوسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام په مزار کښ نمونځ کولو

د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دي چه رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د معراج په شپه د (حضرتِ) مُوسىٰ (عَلَيْهِ السَّلَام) په خوا مونږه تيريدلو، هغوئي د سُور خَټ خوا ته په خپل قبر کښ نمونځ کولو. (صحيح مُسلِم ص١٢٩٣، حديث٢٣٧٤)

انبیاء کو بھی اَجَل آنی ہے مگر ایسی کہ فقط "آنی" ہے
پھر اُسی آن کے بعد اُن کی حیات مِثْلِ سابِق وُہی جسمانی ہے
روح توسب کی ہے زندہ اُن کا
جسمِ پُر نور بھی روحانی ہے
(حَدائِقِ بخشِش شریف)

د شِعرونو ترجَمه:

(۱) يعني انبياءِ کرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام ته هُم مرګ راځي خو صرف د يو ساعت د پاره.
(۲) بيا فوراً هغوئي د مخکښ په شان جِسماني طور ژوندي شي.
(۳) رُوح خو د هر چا ژوندي وي خو د هغوئي نُوراني بدن هُم ژوندي وي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## اولِياءُ الله هُم ژوندي دي

د قُرآنِ مَجِيد نه ثابِت دي چه شُهَدائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی ژوندي دي، مه هغوئي ته مړه وائي او مه ئي مړه ګنړئ. چنانچه ارشاد دي:

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كوم كس چه په ما درودِ پاك لوستل هير كړل هغه د جَنَّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِي)

وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ یُّقْتَلُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌؕ بَلْ اَحْیَآءٌ وَّ لٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ﴿۱۵۴﴾ (پ۲، اَلْبَقَرة:۱۵۴)

[مفهوم] تَرجَمۂ كَنْزُالْاِيْمَان: او څوك چه د اللّٰه په لار كښې قتل كړې شي، هغوئي ته مړه مه وائې، بلكه هغه ژوندي دي، خو تاسو ته خبر نشته.

**مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه ليكي: چه دوئي ژوندي دي نو د دوئي نه مدد حاصلول هُم جائِز شو. كوم حَضَرات چه د عِشقِ اِلٰهی په تُوره قتل شوي دي هغه هُم په دې كښې داخِل دي. ځكه په حديثِ پاك كښې راغلي دي چه څوك د ډوبيدو په وجه مړ شي، اوسوَزي [يعني د سوَزيدو په وجه مړ شي]، په طاعُون كښې مړ شي، كه ښځه د اولاد د پيدائِش په وخت كښې مړه شي، طالِبِ عِلمِ (دِين)، مسافر وغيره ټول شهيدان دي. (جاءَالحق ص۲۱۸)

اَعلٰى حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه په "**فَتَاوىٰ رَضَوِيّه**" جِلد۲۹، ص۵٤٥ كښې فرمائي: اوليائے كرام د وفات نه پس ژوندي دي خو د انبياء عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام په مِثل نه (ځكه چه) د انبياء عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام ژوند "روحاني، جِسماني او دُنياوي" دې، (دا حَضَراتِ انبياء) بالكل هغسې ژوندي وي څنګه چه په دُنيا كښې وو، او د اولياءِ كرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى ژوند د هغوئي نه كم او د شُهَداء نه زيات وي چه د هغوئي په باره

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

كښې په قُرآنِ مَجِيد كښې فرمائيلي شوي دي چه: ”هغوئي (يعني شهيدانو) ته مړه مه وائي، هغوئي ژوندي دي.“ (فَتَاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج۲۹، ص۵٤۵) **مُحَقِّق عَلَى الْاِطلاق، خَاتِمُ الْمُحَدِّثِين، حضرتِ عَلّامه شيخ عبدُ الحق مُحَدِّثِ دِهلوي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ارشاد فرمائي: د **الله** جَلَّ جَلَالُهٗ وَليان د دې دارِ فاني (يعني ختميدونکي دُنيا) نه دارِ بَقَا (يعني د باقي پاتې کيدو والا جهان) طرف ته مُنتقِل شي، هغوئي د خپل پروردګار (جَلَّ جَلَالُهٗ) سره ژوندي دي، هغوئي ته رِزق ورکولې کيږي او خوشحاله دي خو خلق د دې شعور (يعني پوهه) نه لري. (اشعةُ اللّمعات ج۳ ص٤۲۳ مُلَخَّصاً) حضرتِ سيِّدُنا علّامه علي قاري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ارشاد فرمائي: لَا فَرْقَ لَهُمْ فِي الْحَالَيْنِ وَلِذَا قِيْلَ اَوْلِيَاءُ اللهِ لَا يَمُوْتُوْنَ وَلٰكِنْ يَّنْتَقِلُوْنَ مِنْ دَارٍ اِلٰى دَارٍ يعني د اولياءِ کرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى په دواړو حالتونو (يعني ژوند او مرګ) کښې اصلاً فرق نه وي، ځکه وئيلي شوي دي چه هغوئي مړه کيږي نه بلکه د يو کور نه بل کور ته تشريف يوسي. (مِرقاةُ المفاتيح للقاری ج۳ ص٤۵۹)

اولیا ہیں، کون کہتا مر گئے
”فانی گھر“ سے نکلے ”باقی گھر“ گئے

څوک وائي چه اولياء مړه شو لاړو کور ته
نه نه، د ”فاني کور“ نه لاړو ”باقي کور“ ته

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب كيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

## په حياتِ انبياء او حياتِ اَولِياء كښې فرق

اَعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د يو سوال په جواب كښې فرمائي: د انبياءِ كرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام حياتِ بَرزَخِيَّه، حياتِ حقيقي حِسّی دُنياوي دي، په هغوئي باندې د وَعدهٔ اِلٰهِيَّه د تصديق د پاره صرف د لږ ساعت د پاره مرګ راغلې وو بيا فوراً هغوئي ته هُم هغسې ژوند وركړې شو. په دې ژوند باندې هُم هغه دُنياوي اَحكام دي، د هغوئي تَركه (يعني پاتې مال وغيره) به نه تقسيمېږي، د هغوئي د اَزواج [يعني بيبيانو] د پاره نكاح حرامه ده او په اَزواجِ مُطَهَّراتو عِدَّت نشته، هغوئي په خپلو قبرونو كښې خوري څښي او نمونځونه كوي. د عُلَمَاء او شُهَدَاء حياتِ بَرزَخِيّه (يعني د بَرزَخ ژوند) اګرچه د حَياتِ دُنيويه (يعني د دُنياوي ژوند) نه افضل او اعلٰی دي خو په هغې باندې اَحكامِ دُنيويه جاري نه دي او د هغوئي تَركه (يعني پاتې مال وغيره) به تقسيمېږي، د هغوئي اَزواج (يعني بيبيانې) به عِدَّت تيروي.

(مُلَخَّص از ملفوظاتِ اعلٰی حضرت ص ۳۶۱)

## د وفات شوي اِمداد ډېر قوي دې

د ذِكر كړې شوو دلائِلو نه چه كله دا ثابته شوه چه انبياء عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام او اولياء رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی په خپلو مزاراتو كښې حيات [يعني ژوندي] دي نو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوكړه. (عَبدُالرَّزّاق)

چه په كوم دليل د هغوئي نه د هغوئي په حياتِ ظاهري كښې مدد غوښتل جائِز دي بالكل په هُم هغه دليل د دُنيا نه د پرده كولو نه پس هُم [د هغوئی نه مدد غوښتل جائِز او صحيح دي. چنانچه مُحَقِّق عَلَى الْاِطلاق، خَاتِمُ الْمُحَدِّثِيْن، حضرتِ عَلّامه شيخ عبدُ الحق مُحَدِّثِ دِهلوي حَنَفِي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ليكي چه: حضرتِ سيِّدُنا اَحمد بِن مَرزوق رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي چه: يوه ورځ شيخ ابو العبَّاس حَضْرَمِي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه زما نه تپوس اوكړو چه "د ژوندي اِمداد زيات قوي دې كه د وفات شوي؟" ما اووئيل چه ځيني خلق وائي چه د ژوندي اِمداد زيات قوي (يعني مضبوط) دې او زه وايم چه **د وفات شوي اِمداد زيات قوي** (يعني مضبوط) **دې**. شيخ اوفرمائيل: "آو دا خبره صحيح ده ځكه چه وفات شوي بزرګان د **الله تَعَالٰى** په بارګاه كښې د هغه سره وي." (اشعة اللمعات ج١ ص٧٦٢)

## د غيرُالله نه د مدد غوښتلو په باره كښې د شافِعِي مُفتي فتوىٰ

شيخُ الاسلام حضرتِ سيِّدُنا شَهاب رَملي انصاري شافِعِي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه (وفات سن ١٠٠٤ھ) نه فَتوىٰ اوغوښتلې شوه چه (يا سَيِّدى دا ارشاد اوفرمائي چه) "عام خلق چه د سختو (يعني مصيبتونو) په وخت كښې مَثَلًا **يا شيخ فلانكيه** [يعني يا پيره بابا وغيره]! وائي او د انبياءِ كرام او ا ولياءِ كرام نه مدد غواړي، د دې په شرع شريف كښې څه حُكم دې؟

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه **فتویٰ** ورکړه چه: د انبياء و مُرسَلِين او اولياء و عُلَماء او صالحِينو عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام و رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِم اَجْمَعِيْن نه د هغوئي د وِصال (يعني وفات) نه پس هُم اِستِعانَت او اِستِمداد (يعني مدد غوښتل) **جائِز** دي." (فَتَاوىٰ رَملى ج٤، ص٧٣٣)

## مرحُوم ځلمي مُسكې شو او اوئې وئيل چه ........

امام عارِف **بِالله** اُستاذ ابوالقاسِم قُشَيري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي چه مشهور وَلِیُّ الله حضرتِ ابو سعِيد خَرَّاز رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي چه ما په مَکَّهٔ مُکَرَّمه کښې يو ځلمي په "بابِ بنی شَيبه" کښې وفات شوې پروت اوليدو. ناڅاپه هغه ما ته اوکتل او مُسکې شو او اوئې وئيل چه: يَااَبَاسَعِيْدٍ! اَمَا عَلِمْتَ اَنَّ الْاَحِبَّاءَ اَحْيَاءٌ وَّاِنْ مَّاتُوْا وَاِنَّمَا يُنْقَلُوْنَ مِنْ دَارٍ اِلٰی دَارٍ يعني اے اَبُو سعِيد! آيا تاسو ته نه ده معلومه چه د **الله** تَعَالٰی **محبوب** (يعني ګران) بندګان ژوندي دي، اګرکه هغوئي وفات شي. معامله خو صرف دومره ده چه هغوئي د يو کور نه بل کور ته مُنتقِل کړې شي. (رِسالهٔ قُشَيرِيه ص٣٤١)

## د الله تَعَالٰی هر ګران بنده ژوندي دي

سُبْحٰنَ الله! د وَلِیُّ الله د وفات نه پس ژوند خومره ښکلې دې! چه د اولياء شان ئې هُم بيان کړو او د ليدو والا نوم ئې هُم اوښودو! دې ته نزدې نزدې يو بل **حِکايت** اوګورئ چنانچه حضرتِ سيِّدُنا ابو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزُ العُمّال)

علي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي چه ما يو فقير قبر ته كُوز كړو، چه كله مې د هغه كفن خلاص كړو او د هغه سر مې په خاورو كينښودو د پاره د دې چه اللّٰه تَعَالٰی د هغه په غريبئ رحم اوفرمائي، نو هغه سترګې اوغړولې او ما ته ئې اوفرمائيل: ”اے ابو علي! تاسو ما هغه ته ذليله كوئ څوك چه زما نازونه اوچتوي!“ ما ځان لږ راسم كړو او ورته مې اووئيل چه: يا سَيِّدی (يعني اے زما سرداره!) آيا د مرګ نه پس هم ژوند شته دې؟ هغه جواب راكړو: ”بَلٰی اَنَا حَیٌّ وَّكُلُّ مُحِبٍّ لِلّٰهِ حَیٌّ يعني آو ولې نه، زه ژوندې يم او د اللّٰه هر مَحبوب (يعني ګران بنده) ژوندې دې.“ (شرحُ الصّدور ص٢٠٨)

اولياء كس نے كہا كہ مر گئے
قيد سے چھوٹے وہ اپنے گھر گئے
اولياء څوك وائي چه مړه لاړل كورته
د قيد نه خلاص شو او لاړل خپل كورته

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

سوال (٩): زه حَنَفِي يم، دا راته اووائي چه زما اِمامِ اعظم اَبُو حنيفه رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه هُم كله د غيرُاللّٰه نه مدد غوښتې دې؟

**جواب:** ولې نه. د كروړاؤ حَنَفيانو پيشوا حضرتِ سيِّدُنا اِمامِ اعظم اَبُو حَنِيفه رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په باركاهِ رِسالت صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كښې په ”قَصِيدهٔ نُعمان“ كښې د مدد درخواست داسې كوي: ـــه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

يَا اَكْرَمَ الثَّقَلَيْنِ يَا كَنْزَ الْوَرٰى جُدْلِیْ بِجُوْدِكَ وَاَرْضِنِیْ بِرِضَاكَ
اَنَا طَامِعٌ بِالْجُوْدِ مِنْكَ لَمْ يَكُنْ لِاَبِیْ حَنِيْفَةَ فِي الْاَنَامِ سِوَاكَ

يعني اے د جِن و اِنس [يعني پيريانو او انسانانو] نه بهتره او د نعمتِ اِلٰهي خزانې! اللّٰه تَعَالٰی چه تاسو ته څه درکړي دي د هغې نه ما ته هُم را عطا کړئ او اللّٰه تَعَالٰی چه تاسو راضي کړي ئې تاسو ما هُم راضي کړئ. زه ستاسو د سخاوت اُميدوار يم او ستاسو نه سِوا د ابوحنيفه په مخلوق کښې هيڅ څوك نشته. (قصِيدۂ نُعمانيه مع الخيرات الحسان ص ۲۰۰)

پڑے مجھ پر نہ کچھ افتاد یاغوث
مدد پر ہو تری امداد یاغوث
(ذوق نعت)

چه رانشي په ما څه آفتونه يا غوثِ اعظم
اوکړئ زما ډير ډير اِمدادونه يا غوثِ اعظم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د "يا علي مدد" وئيلو ثبوت

**سوال (۱۰):** که د "يا علي مدد" وئيلو په صَراحت سره (يعني واضحه) دليل راکړئ نو مدينه مدينه.

**جواب:** په تيرو صفحاتو کښې د غيرِ خُدا نه د هغه په ظاهري ژوند او پس د مرګه د مدد غوښتلو دلائل تير شو. خو په صراحت سره د "يا علي مدد" وئيلو دليل هُم اوګورئ چنانچه زما آقا اَعلٰی حضرت

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

اِمامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د فَتَاوىٰ رَضَوِيّه په جِلد۹ كښې د صفحه ۸۲۱ نه ۸۲۲ پورې ليكي: د شاه محمد دوست ګواليارې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په كتاب "جواهِرِ خمسه" كښې چه د هغې د وظائفو لوستولو جَيِّد او بزرګانو اولياءِ كرامو اِجازتونه وركړې دي او په هغې كښې شاه وَلِيُّ الله مُحَدِّث دهلوي هُم شامل دې، په هغه كتاب كښې دي چه، "نادِ علي هفت بار يا سه بار يا يک بار بخوانده و آں اِيں اَست، يعنى يا دِ ووه ځله يا درې ځله يا يو ځل نادِعلي اووائي، او هغه دا دې: نَادِ عَلِيًّا مَّظْهَرَ الْعَجَائِبِ تَجِدْهُ عَوْنًا لَّكَ فِي النَّوَائِبِ كُلُّ هَمٍّ وَّغَمٍّ سَيَنْجَلِيْ بِوِلَايَتِكَ يَا عَلِيُّ يَا عَلِيُّ يَا عَلِيُّ ترجَمه: حضرتِ علي ته غږ كړئ چه هغه د عَجائِبو مظهر دې، هغه به خپلو ټولو مصيبتونو كښې مددګار اووِينئ، هر غم به مو لرې شي، د هغوئې كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم په وِلايت، ياعلي، ياعلي، ياعلي. (جواهر خمسه مُترجَم ص۲۸۲، ۴۵۳)

## كه ياعلي مدد وئيل شِرك وي نو........

اَعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نور فرمائي: كه مَولىٰ علي مُشكِل كُشا ګڼړل، د مصيبت په وخت كښې مددګار ګڼړل، د غم او تكليف په وخت كښې هغه جناب ته غږكول او ياعلي ياعلي وئيل شِرك وي نو مَعَاذَالله دا ټول اولياءِ كرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی به كُفَّار او مُشرِكين ګرځي، او د ټولو نه زيات او غټ مُشرِك او كټر كافِر به عِيَاذاًبِالله (يعني د الله تَعَالٰی پناه)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلى)

شاه وَلِـيُّ الله وي چه هغوئي مُشرِكان اولياءُ الله گڼړي اَلْعِيَاذُبِاللّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْحَقِّ الْمُبِيْن، مسلمانان دِ اوګوري چه ياعلي ياعلي (وئيلو) ته د شِرك وئيلو څه سزا ورکړې شوه! نه به ئي ناحقه مسلمانانو ته مُشرِكان وئيلې او نه به ښخوانو [بزرګانو] او اوسنو [مسلمانانو] ته د مُشرِك وئيلو په مصيبت كښ اخته كيدې، د دې نه هُم دا بهتره ده چه په سمه لار راشي، رښتينو مسلمانانو ته مُشرِك نه وائي ګني د خپلو ايمانونو فِكر دِ اوكړي.

(فَتَاوىٰ رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج۹، ص۸۲۱، ۸۲۲)

سخت دشمن ہے حسن کی تاک میں
المدد محبوبِ یزداں الغیاث
(ذوقِ نعت)

سخت دُښمن دې حَسَن ته په لاره كښ ناست
المدد اے د اللّٰه محبوبه المدد

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د "يا غوث" وئيلو ثبوت

**سوال (۱۱):** آيا هُم دغسې د يا غوث وئيلو ثبوت هُم راكولې شئ؟

**جواب:** ولې نه. دغسې خو ډير دلائِل تير شو، صراحت [يعني وضاحت] هُم حاضِر دې، چنانچه مشهور او معروف حَنَفي عالِم حضرتِ عَلّامه مولانا مُلّا علي قاري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه نقل كوي چه: حُضُورِ غوثِ اعظم

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَراني)

پيرانِ پير صاحب رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "څوك چه غم او تکليف کښې زما نه مدد اوغواړي نو د هغه غم او تکليف به لرې شي او څوك چه د سختئ په وخت کښې زما نوم واخلي او ما ياد کړي نو هغه سختي به لرې شي او څوك چه په څه حاجت کښې د رَبُّ الْعِزَّت طرف ته ما وسِيله جوړ کړي نو د هغه حاجت به پوره کيږي." حضرتِ عَلّامه مولانا مُلّا علي قاري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه نور ليکي چه: حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د **صلوٰةِ غَوثِيه** ترکيب ارشاد فرمائي چه دوه رکعاته نفل دِ اوکړي، په هر رکعت کښې دِ د **سُوْرَةُ الفَاتِحَه** نه پس ۱۱، ۱۱ ځله **سُوْرَةُ الْاِخلاص** اولولي، د سلام ګرځولو نه پس دِ ۱۱ ځله صلوٰة و سلام (مثلًا اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ) اولولي بيا دِ د بغدا طرف ته (يعني د پاك و هِند نه د شمال طرف ته) ۱۱ قدمه لاړ شي په هر قدم دِ زما نوم اخلي او خپل حاجت دِ عرض کوي او دا دوه شعرونه دِ اولولي:

اَ یُدْرِکُنِیْ ضَیْمٌ وَ اَنْتَ ذَخِیْرَتِیْ   وَاُظْلَمُ فِی الدُّنْیَا وَ اَنْتَ نَصِیْرِیْ
وَعَارٌ عَلٰی حَامِی الْحِمٰی وَھُوَمُنْجِدِیْ   اِذَا ضَاعَ فِی الْبَیْدَاءِ عِقَالُ بَعِیْرِیْ

[ترجَمه:] آيا په ما به ظُلم کيږي؟ په داسې حال کښې چه تاسو زما سرمايه ئې. او آيا په دُنيا کښې به په ما سِتم کيږي؟ په داسې حال کښې چه تاسو زما مددګار ئې. چه د **غوثِ پاك** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه داډ راسره وي او په ځنګل کښې زما د اُوښ پړې ورك شي نو دا خبره هُم د مُحافِظ د پاره د پيغور باعِث ده.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، خوك چه داسې کوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

د دې وَينا نه پس حضرتِ مُلَّا علي قاري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: وَقَدْ جُرِّبَ ذٰلِكَ مِرَاراً فَصَحّ يعني ډير ځل د دې صلوٰةِغوثيه تجربه شوې ده، صحيح ختلې ده. (نُزهَةُ الخاطر ص٦١)

حُسنِ نیّت ہو خطا تو کبھی کرتا ہی نہیں
آزمایا ہے یگانہ ہے ''دوگانہ'' تیرا
(حدائِقِ بخشِش شریف)

چه نِيّت بنه وي كله هُم نه كړي خطا دا
ما ازمائيلي بيمثاله ستاسو دوه ركعاته

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده چه! حُضُور غوثِ اعظم پيرانِ پير صاحب رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه مسلمانانو ته تعليم وركوي چه د مصيبت په وخت كښې زما نه مدد غواړئ او د سُنيّانو مُعتبر عالِم حضرتِ عَلّامه مولانا مُلّا علي قاري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه هغه بغير د ترديد نه نقل كوي چه "د دې تجربه شوې ده، بالكل صحيح دي." معلومه شوه چه د بزرګانو نه پس د وفاته مدد غوښتل نه صرف جائِز دي بلكه فائده مند هم دي. (جاءَ الحق ص٢٠٧)

## د پيرانِ پير صاحب درې اِيمان تازه كوونكي ارشادات

مُحَقِّق عَلَى الْاِطلاق، خَاتِمُ الْمُحَدِّثِيْن، حضرتِ عَلّامه شيخ عبدُ الحق مُحَدِّثِ دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه چه په "اخبارُ الاخيار" كښې د پيرانِ پير

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

غوثِ اعظم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ کوم اقوال نقل کړي دي په هغې کښې درې دا دي اوګورئ: ﴿۱﴾ که زما د مُرِيد د حيا پرده په مشرق کښې خلاصيږي او زه په مغرب کښې يم، بيا به هُم د هغه پرده پوشي کووم ﴿۲﴾ زه به تر قيامته دخپلو مُريدانو دستګيري کووم اګر که هغه د سوَرلئ نه اوغورزيږي ﴿۳﴾ څوك چه په سختئ (يعني مشكل) كښې ما ياد كړي (يعني المَدد يا غوث اووائي) هغه ته به فراخي حاصِله شي. (يعني مشكِل به ئې حل شي) (اخبار الاخيار ص ۱۹)

قسم ہے کہ مشکل کو مشکل نہ پایا
کہا ہم نے جس وقت "یا غوثِ اعظم"
(ذوقِ نعت)

په قسم چه مشکل مو مشکل نه دې ګڼرلې
کله چه مونږه وئيلي دي "يا غوثِ اعظم"

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

سوال (۱۲): پيرانِ پير شيخ عبدالقادر جيلاني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ خو به عربي او فارسي وئيله، چه په مُختلفو ژبو مَثَلًا پښتو، اُردو، انګريزئ او پنجابئ وغيره ژبو کښې څوك د هغوئي نه مدد اوغواړي نو هغوئي به ئې څنګه مدد کوي؟

جواب: چه کومه ښځه خپل خاوند په هره ژبه کښې خفه کړي نو [په جنَّت کښې] د هغه زَوجه جوړيدو والا جَنَّتي حُوره په هغې پوهيږي چنانچه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليكي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

## د جَنَّتي حُورې په نورو ژبو پوهيدل

فرمانِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چه كله كومه ښځه خپل خاوند په دُنيا كښې خفه كوي نو د هغه ښځې ته جَنَّتي حُوره وائي: لَاتُؤْذِيْهِ قَاتَلَكِ اللّٰهُ فَاِنَّمَا هُوَ عِنْدَكِ دَخِيْلٌ يُوْشِكُ اَنْ يُّفَارِقَكِ اِلَيْنَا يعني هغه ته تكليف مه وركوه الله دِ تا برباده كړي، هغه ستا سره د يو څو ورځو ميلمه دې، نزدې ده چه هغه ستا نه جُدا كيدو والا او زمونږ خوا ته راتلو والا دې. (سُنَنُ التِّرمِذِی ج۲ ص۳۹۲ حديث۱۱۷۷) چه حُوره په نورو ژبو پوهيدې شي نو د اولياءُ سردار پيرانِ پير غوثِ اعظم دستګِير رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د وفات نه پس په نورو ژبو ولې نه شي پوهيدلې!

## د حديثِ پاك اِيمان تازه كوونكي شرح

مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حديث نه لاندې په مِرْاٰة جِلد ۵ صفحه ۹۸ كښې فرمائي: د دې حديث نه يو څو مسئلې معلومې شوې، يوه دا چه حُورې د نُوراني كيدو په وجه په جنَّت كښې د زمكې واقعات وِيني، اوګورئ دلته جګړه كيږي په يوه بنده كوټه كښې او حُوره ئې وِيني! دلته (صاحِبِ مِرقاة (حضرتِ عَلّامه مولانا مُلّا علي قاري رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ) فرمائي چه مَلاءِ اعلٰی د دُنيا والؤ د يو يو عمل نه خبردار دې. دوئمه دا چه حُورو ته د خلقو د انجام عِلم دې چه فلانكې مُؤمِن به مُتَّقِي [يعني پرهيزګاره]

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

مري. (ځکه خو وائي چه نزدې ده چه ستا نه به جُدا شي او زمونږ خوا ته به راشي) **دريمه** دا چه حُورو ته د خلقو د مُقام خبر دې چه د قيامت نه پس به دا د جَنَّت په فلانکۍ درجه کښې اوسيږي. **څلورمه** دا چه حُورې نن هُم خپل خاوندان انسانان پيژني، **پينځمه** دا چه نن هُم زمونږه د تکليف په وجه حُورو ته تکليف رسي او زمونږه د مُخالِف نه خفه کيږي. نو چه د حُورو د عِلم دا حال دې نو حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چه د ټولو مخلوقاتو نه غټ عالِم دې د هغوئي صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلم به څه وائې! مفتي صاحِب لږ مخکښې نور ليکي: **شپږمه** دا چه حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جَنَّت د حالاتو (او) د حُورو د کلام نه خبردار دې خو دا کلام هُم هغه حُوره کوي د چا خاوند چه په هغه کور کښې موجود وي. يعني په تِرمِذِی کښې دا حديث غريب دې، د اِبنِ ماجه په رِوايت کښې نشته خو دا غَرابت نُقصاني نه دې، ځکه چه د دې حديث تائيد د قُرآنِ مَجِيد نه کيږي.

**رب** تَعَالٰی د فرښتو مُتَعَلِّق فرمائي:

يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۱۲﴾ (الانفطار ۱۲)

[مفهوم] تَرجَمۂ کَنزُالاِيمَان: چه [هغوئي ته] معلوم دي څه چه تاسو کوئ.

او د اِبلِيس او د اِبلِيس د اولاد مُتَعَلِّق فرمائي:

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَرانی)

اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ هُوَ وَ قَبِيْلُهٗ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ؕ (پ 8 الاعراف 27)

[مفهوم] تَرجَمۂ کَنزُالاِیمان: بيشکه هغه او د هغه کورنئ تاسو د هغه ځائ نه وِيني چه تاسو هغوئي نه وِينئ.

چه کله د حديث تائيد د قُرآنِ مَجِيد نه حاصل شي نو "ضعيف" هُم "قوي" شي. (مِرْاٰۃ ج۵ ص۹۸) بهرحال د عالَمِ آخِرت مُعامِلات وَهبي (يعني د الله تَعَالٰی د طرف نه عطا شوي) او خِلافِ عادت دي، هغه د دې دُنيا په معاملاتو نه شي قياس کيدې. يعني کوم اُمور چه په دُنيا کښې کَسبِي دي (يعني په کوشش حاصليدې شي) هغه هلته صرف وَهبي شي. حضرتِ علّامه علي قاري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: لِاَنَّ اُمُوْرَ الْاٰخِرَةِ مَبْنِيَّةٌ عَلٰی خَرْقِ الْعَادَةِ يعني ولې چه د آخرت معاملات په خِلافِ عادت باندې مُشتمل دي. (مِرقاۃ ج۱ ص۳۵٤ تحتَ الحديث ۱۳۱)

راستہ پُر خار، منزِل دُور، بَن سُنسان ہے
المدد اے رہنما! یا غوثِ اعظم دَستگیر
(وَسائِلِ بخشش ص۵۲۲)

لاره کښې غني، منزل لرې، خاموشي ده او صحرا دې
الْمَدد اے رهنُما! يا غوثِ اعظم دستګِير

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

چه الله مدد کولې شي نو د بل چا نه مدد ولې اوغواړو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښې زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمذی)

**سُوال (۱۳):** د هغه خلقو په باره كښې تاسو څه وائې، چا چه دا ذهن جوړ كړې وي چه صرف د **الله** جَلَّ جَلَالُهٗ نه به مدد غواړم ځكه چه اللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ په هر څه قادِر دې نو بيا احتياط په هُم دې كښې دې چه صرف د هغه نه مدد اوغوښتې شي.

**جواب:** بيشكه اللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ په مدد باندې قادِر دې او كارسازِ حقيقي هُم هغه دې، كه څوك صرف د **الله** جَلَّ جَلَالُهٗ نه مدد غواړي نو په هغه هيڅ الزام نشته، خو بيا هُم ”احتياطاً د نورو نه مدد نه غوښتل“ د شيطان غټ او بد وار دې ځكه چه هغه د دې كس ذِهن مُنتشِر كړې دې ځكه خو د احتياط په نوم په دې وسوسه عمل كوي چه كيدې شي چه د **الله** جَلَّ جَلَالُهٗ نه سِوا د بل چا نه مدد غوښتل غلط كار وي! كه هغه په وسوسه كښې اخته نه وې نو دې ته به ئې د ”احتياط“ نوم ولې وركولې! هغه ته د خپلو **وسوسو علاج** كول ضروري دي، ځكه چه د دې وسوسې په منلو كښې د ډيرو قُرآنِي آيتونو او مباركو حديثونو مخالفت موجود دې، اللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ او رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نورو نه د مدد غوښتلو اجازت وركوي او دا په خپله ”وسوسه ماركه احتياط“ پورې نښتې دې! داسې كس ته د قُرآن كريم په دې شپږو آيتونو باندې ښه په سارو دماغو فكر كول پكار دي، په كومو كښې چه د غيرِ خُدا نه د مدد غوښتلو په صفا صفا الفاظو كښې تذكره موجوده ده. چنانچه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاخیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا خیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

## ﴿۱﴾ په نیکۍ کښې د یو بل سره مدد اوکړئ:

وَ تَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَ التَّقْوٰى ۪ وَ لَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَ الْعُدْوَانِ ۪ (پ٦، المآئدہ:٢)

[مفہوم] تَرجَمۂ کَنْزُالْاِیمَان: او په نیکۍ او پرهیزګارۍ کښې د یو بل سره مدد اوکړئ او په ګناه او زیاتي کښې د یو بل سره مدد مه کوئ

## ﴿۲﴾ د صبر او نمانځه نه مدد اوغواړئ:

وَاسْتَعِیْنُوْا بِالصَّبْرِ وَ الصَّلٰوةِ ؕ (پ١، البقرة٤٥)

[مفہوم] تَرجَمۂ کَنْزُالْاِیمَان: او د صبر او نمانځه نه مدد او غواړئ.

## ﴿۳﴾ سکندر ذُوالقَرنَین رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه مدد اوغوښتو: چه کله حضرتِ

سیِّدُنا سِکَندر ذُوالقَرنَین رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه د مشرق طرف ته سفر اوکړو نو د یو قوم په شکایت ئې د یَاجُوج ماجُوج او د هغه قوم په مینځ کښې دیوال قائم کړو او د هغه قوم کسانو ته ئې ارشاد اوفرمائیلو:

فَاَعِیْنُوْنِیْ بِقُوَّةٍ (پ١٦، الکهف٩٥)

[مفہوم] تَرجَمۂ کَنْزُالْاِیمَان: نو زما مدد په طاقت اوکړئ

## ﴿٤﴾ د الله د دِین مدد اوکړئ:

اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ یَنْصُرْكُمْ (پ٢٦، محمد:٧)

[مفہوم] تَرجَمۂ کَنْزُالْاِیمَان: که تاسو د الله د دِین مدد اوکړئ نو الله به ستاسو مدد کوي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

﴿٥﴾ د نبي د غيرُالله نه د دِين د پاره مدد طلب كول: حضرتِ سيِّدُنا عِيسىٰ رُوحُ الله عَلٰى نَبِيِّنَا وَعَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام فرمائيلي دي:

مَنْ اَنْصَارِیْۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ ۚ (پ٣، اٰلِ عِمران:٥٢)

مفهوم] ترجمهٔ كَنْزُ الْاِيْمَان: څوك زما مددګار جوړيږي د الله په طرف؟ حَوارِيانو اووئيل: مونږه د الله د دِين مددګار يو.

﴿٦﴾ الله تَعَالٰى غيرُالله ته مددګار وئيلي دي:

فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ مَوْلٰىهُ وَ جِبْرِيْلُ وَ صَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ وَ الْمَلٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذٰلِكَ ظَهِيْرٌ ﴿٤﴾ (پ٢٨، التحريم:٤)

[مفهوم] تَرجمهٔ كَنْزُ الْاِيْمَان: نو بيشكه الله د هغوئي مددګار دي او جبريل او نيك ايمان والا او د هغې نه پس فرښتې په مدد دي.

کن کا حاکم کر دیا اللہ نے سرکار کو
کام شاخوں سے لیا ہے آپ نے تلوار کا
(سامانِ بخشش)

د كُن حاكِم كړو الله زمونږ مَدَني سركار
د خاخونو نه اغستې دي هغوئي د تُورې كار

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## يو بشر هم د غيرِ خُدا د مدد نه بغير نه شي پاتې كيدې!

سوال (١٤): آيا ستاسو دا مطلب دې چه يو بشر هُم د غيرِ خُدا د مدد نه بغير نه شي پاتې كيدې؟

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِیامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډیر نِزدې هٰغه وي چا چه په دُنیا کښې په ما باندې زیات درودِ پاك لوستلي وي. (ترمِذِی)

**جواب:** آو جي. مثلًا تاسو په موټر کښې روان ئې او ستاسو موټر په روډ کښې ”اوننښتو“ او د ډِیکه وهلو ضرورت پیښ شو نو څه به کوئ؟ مجبوراً به په لاره روانو خلقو ته عرض کوئ چه مهرباني اوکړئ لګه ډِیکه خو اووهئ کیدې شي چه د بعضې خلقو په زړونو کښې رحم پیدا شي او ډِیکې اووهي او ګاډې روان شي! تاسو اولیده! چه ستاسو حاجت پیښ شو نو تاسو د غیرُالله نه مدد اوغوښتو، هغوئي ستاسو مدد اوکړو او ستاسو مُشکِلکُشائي اوشوه! که تاسو دا وائې چه دا خو ژوندو خلقو مدد اوکړو! نو واخلئ چه د وفات نه پس د مدد کولو داسې دلیل درته عرض کړم چه د دې ”مدد“ اثر په ټولو مسلمانانو ښکاره دې چنانچه

## د پنځوسو په ځائ نمونځونه پینځه څنګه شو

حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه: **د مدینې د تاجدار** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالِیشان دې چه اللّٰه تَعَالٰی زما په اُمَّت باندې **پنځوس** نمونځونه فرض کړي وو. چه زه کله د مُوسیٰ (عَلَیْہِ السَّلَام) خوا ته بیرته راغلم نو مُوسیٰ (عَلَیْہِ السَّلَام) رانه تپوس اوکړو چه اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی ستاسو (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) په اُمَّت څه فرض کړي دي؟ ما هغوئي ته اووئیل [چه پنځوس نمونځونه] نو هغوئي اووئیل: خپل **رب** تَعَالٰی له بیرته ورشئ، ستاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُمَّت دومره طاقت نه لري. زه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

بيرته اللّٰه تَعَالٰی له لاړم، د هغې نه ئې څه حِصّه کمه کړه. چه بيرته د مُوسیٰ (عَلَيۡهِ السَّلَام) خوا ته راغلم نو هغوئي زه بيرته اوليږلم. اللّٰه تَعَالٰی اوفرمائيل: ښه پينځه دي او د پنځوسو قائم مُقام دي ځکه چه زمونږه په قَول [يعني وَينا] کښې بدلون نه کيږي. د مُوسیٰ (عَلَيۡهِ السَّلَام) خوا ته بيا راغلم. هغوئي اووئيل چه: بيا اللّٰه تَعَالٰی له ورشه. ما جواب ورکړو چه: ما ته خو د **الله** تَعَالٰی نه نور شرم محسوسيږي. (اِبۡنِ ماجه ج۲ ص۱۶۶ حديث ۱۳۹۹) تاسو اوليده چه! **حضرتِ سيِّدُنا مُوسیٰ کَلِيمُ الله** عَلَيۡهِ السَّلَام د **خپل ظاهري وفات نه دوه نيم زره کاله پس د اُمَّتِ مُصطفیٰ دا مدد اوفرمائيلو چه د معراج په شپه ئې د پنځوسو نمونځونو په ځائ پينځه کړل.** اللّٰه تَعَالٰی ته معلومه وه چه نمونځونه به پينځه وي خو پنځوس ئې مقرر کړل او بيا ئې د دوو محبوبانو په ذريعه پينځه مقرر کړل. دلته يوه د مزې خبره دا ده چه کوم خلق د شيطان په وسوسو کښې اخته دي د وفات شوو خلقو د مدد او تعاون انکار کوي هغوئي هُم پنځوس نه بلکه پينځه نمونځونه کوي حالانکه په پينځه نمونځونو مقررولو کښې يقيني طور د [دُنيا نه سفر کولو والا] **غيرُالله** مدد شامِل دې!

## په جَنَّت کښې هُم د غيرُالله د مدد حاجت؟

په جَنَّت کښې به هُم د غيرُالله د مدد حاجت وي، آو جي د **الله** جَلَّ جَلَالُهٗ د محبوب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دې: ”جنّتيان به په جَنَّت

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كوم كس چه په ما درودِ پاك لوستل هير كړل هغه د جَنَّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِي)

كښې د عُلَماءِ كرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی مُحتاجه وي، ځكه چه هغوئي به د هرې جُمعې په ورځ د **اللّٰه** تَعَالٰی د دِيدار شرف حاصلوي. اللّٰه تَعَالٰی به فرمائي: تَمَنَّوْا عَلَیَّ مَا شِئْتُمْ يعني زما نه اوغواړئ څه چه مو خوښ وي! هغه جَنَّتيان به د عُلَماءِ كرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی طرف ته مُتَوَجّه كيږي چه د خپل ربِّ كريم نه څه اوغواړو؟ هغوئي به ورته فرمائي: "دا اوغواړئ هغه اوغواړئ." "فَهُمْ يَحْتَاجُوْنَ اِلَيْهِمْ فِي الْجَنَّةِ كَمَا يَحْتَاجُوْنَ اِلَيْهِمْ فِي الدُّنْيَا نو څنګه چه خلق په دُنيا كښې د عُلَماءِ كرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی محتاجه وو، جَنَّت كښې به هم د هغوئي مُحتاجه وي."

(اَلْجَامِعُ الصَّغِيرِ لِلسُّيُوطي ص١٣٥، حديث٢٢٣٥)

انسان عام طور د ژوند په هر وخت كښې د نورو محتاجه اوسي، كله د مور او پلار، كله د يارانو دوستانو، كله د پوليس والؤ، كله په لاره روان د يو عام سړي. نو هغه [خلق هُم چه څوك دې وسوسې ته د احتياط نوم وركوي] په داسې صورت كښې "احتياط" كولو كښې څنګه كاميابيدې شي! خو كه څوك واقعي په وسوسو كښې ګرفتار نه وي او د **اللّٰه** تَعَالٰی په عطا نور خلق په رښتيني زړه مددګار تسليموي او د دې باوجود هغه صرف د **اللّٰه** تَعَالٰی نه مدد غواړي نو بيا په دې كښې هيڅ باك نشته.

تو ہے نائبِ ربِّ اکبر پیارے ہر دَم تیرے در پر
اہلِ حاجت کا ہے میلہ صَلّی اللہ علیک وسلم

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

ته ئې نائب د ربِّ اکبرؔ هر وخت ستا په در
راجمع شوي حاجت مند وي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْكَ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## آيا د غيرُ الله نه مدد غوښتل کله واجِب هُم وي؟

سوال (۱۵): آيا څه داسې صُورت هُم شته چه په هغې کښې د غيرُ الله نه مدد غوښتل واجِب کيږي؟

جواب: آو جي، ځينې صورتونه داسې دي چه هلته د غيرُالله نه مدد غوښتل واجِب شي او په ځينې صورتونو کښې په بنده دا هُم واجِب شي چه هغه مدد اوکړي. په دې باره کښې هٰغه فِقهي جُزئيات وړاندې کيږي چه په هغې کښې د مدد (يعني تعاون) غوښتلو او د مدد کولو د واجِب کيدو تذکِره ده.

## هغه مقامات کوم ځائې چه مدد غوښتل واجِب دي

(۱) که (لباس نه لري او په داسې صورت کښې به په بربنډه نمونځ کوي اور د بل سره کپړه [يعني ټوکې] وي او غالِب گُمان ئې دا وي چه که ترې اوغواړي نو ورته ئې کړي نو (د لِباس په صورت کښې مدد) **غوښتل** واجِب دي. (بہارِ شريعَت ج۱، ص۴۸۵) (۲) که د خپل ملګري سره ئې اوبه وي او دا گُمان لري چه که د هغه نه (د اوبو په صورت کښې مدد)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولولستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

اوغواړي نو وربه ئې کړي نو د غوښتلو نه مخکښ تَيَمُّم کول جائِز نه دې، بيا ئې که د غوښتلو نه بغير تَيَمُّم اوکړو او نمونځ ئې اوکړو او پس د نمانځه نه ئې اوغوښتلې او هغه ورکړلې يا بې غوښتلو هغه پخپله ورکړې نو اودس کول او د نمانځه اِعاده کول [يعني راګرځول] لازِم دي او که اوئې غوښتلې او هغه ورنکړې نو نمونځ اوشو او که وروسته ئې هُم او نه غوښتلې چه د هغې نه د ورکولو او نه ورکولو حال معلوم شوې وې او نه هغه پخپله ورکړې نو نمونځ اوشو او که د ورکولو غالِب ګُمان ئې نه وو او تَيَمُّم ئې اوکړو او نمونځ ئې اوکړو نو بيا هُم دا دوه صورتونه دي چه که وروسته هغه اوبه ورکړې نو اودس دِ اوکړې او نمونځ دِ را اوګرځوي ګني [او که نه هغه پخپله ورکړې او نه ده اوغوښتې نو نمونځ] اوشو. (اَيضاًص٣٤٨)

## هٰغه مقامات چرې چه مدد کول واجِب دي

(١) که په مصيبت کښ ګرفتار يو کس فرياد کوي، هُم هغه نمونځ کوونکې ته نعرې وهي يا مطلقاً چا ته نعرې وهي يا څوك ډوبيږي يا به په اور اُوسوَزي يا ړوند لاروې کس کوهي ته غورزيدو والا وي، په دې ټولو صورتونو کښ (نمونځ) ماتول **واجِب** دي، هله چه دا (نمونځ کوونکې) د هغه په بچ کولو قادِر وي (يعني قُدرت لري).

(اَيضاًص٦٣٧)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

(٢) مور او پلار، نیکه او نیا وغیره د **اُصول**[1] صرف په رابللو نمونځ قطع کول (یعني ماتول) جائِز نه دي، البته که د هغوئي غږ کول هُم د څه غټې مصیبت د پاره وي، ځنګه چه پاس ذِکر شو نو مات دِ ئي کړي (او د هغوئي مدد ته دِ اورسي)، دا حُکم د فرضو (رکعاتونو) دې او که نفل نمونځ وي او هغوئي ته معلوم وي چه نمونځ کوي نو د هغوئي په معمولي رابللو دِ نمونځ نه ماتوي او که د هغه نفل نمونځ کول هغوئي ته معلوم نه وي [چه ګني د اپه نمانځه کښې مشغول دې] او غږ اوکړي نو مات دِ ئي کړي او جواب دِ ورکړي، اګرکه معمولي طور غږ اوکړي. (اَیضاًص٦٣٨) (٣) که څوك اُوده وي یا ترې نمونځ کول هیر وي نو چا ته چه معلوم وي په هغه واجِب دي چه (د هغه داسې مدد اوکړي چه) اُوده کس دِ راپاڅوي او د چا نه چه هیر وي هغه ته دِ وریاد کړي. (اَیضاًص٧٠١) (٤) که په هیر کښې ئې خوارك څښاك اوکړو یا ئې جِماع اوکړه، روژه ما ته نه شوه، که هغه روژه فرض وي او که نفل. او که د روژې د نِیَّت کولو نه مخکښې ترې دا کارونه اوشو یا وروسته، خو چه که په وریادولو هُم وریاد نه شو چه روژه دار دې نو بیا فاسِد [یعني ماته] شوه. په شرط د دې چه د وریادولو نه پس ترې

[1] مثلًا مور، نیا [یعني د مور، مور]، د نیا مور دغسې نور د بره پورې. او پلار، نِیکه، ور نیکه هُم دغسې نور تر بره پورې دې ټولو ته "اُصول" وائي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوكړه. (عَبدُالرَّزَّاق)

دا كارونه واقع شوي وي خو په دې صُورت كښې كَفَّاره لازِمه نه ده. (٥) كه يو روژه دار په دې افعالو اووِيني نو وريادول واجِب دي، (كه د هغه داسې مدد ئې اونكړو يعني) وريادِ ئې نه كړل نو ګنهګار شو، خو كه هغه روژه دار ډېر كمزورې وي چه كه وريادِ ئې كړې نو خوراك به پرېږدي او كمزوري به ئې دومره زياته شي چه روژه نيول به ورته سخت شي او كه خوراك اوكړي نو روژه به هم په ښه شان پوره كړي او نور عبادتونه به هم په ښه شان ادا كړي نو په داسې صُورت كښې نه وريادول بهتر دي. (اَيضاً ص٩٨١) (٦) كوم كس چه (قُرآنِ مَجِيد) غلط وائي نو په اوريدونكي باندې (په دې انداز كښې د هغه مدد كول) **واجِب** دي چه ورته اووائي، په شرط د دې چه د وئيلو په وجه كينه او حسد نه پيدا كيږي. هُم دغه شان كه د چا مُصحَف شريف (يعني د قُرآنِ مَجِيد نُسخه) د چا سره عارِيت (يعني د څه وخته پورې) ده، كه په هغې كښې د كِتابت (يعني د ليكلو) غلطي اووِيني نو هغه ته ښودل (چه دا هم د مدد كولو يو صورت دې او دا) واجِب دي. (اَيضاً ص٥٥٣)

ہے انتظامِ دنیا امدادِ باہمی سے
آجائے گی خرابی امداد کی کمی سے
د يو بل سره په مدد باندې روان دې اِنتظام
كه مدد كښې كمې راغې نو خراب به شي نِظام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمْعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزُ العُمّال)

سوال (١٦): په قُرآنِ مَجِيد كښې دي:

وَلَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ (پ١١، يونس ١٠٦)

[مفهوم] تَرجَمه: "**د اللّٰه نه سِوا هغوئي مه يادوئ.**"

معلومه شوه چه غيرِ خُدا يادول [يعني د هغوئي نه غوښتل] شِرك دي.

**جواب:** په دې آيت كښې مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ (يعني د الله نه سِوا) يادولو نه منع شوې ده، دلته مُراد بُتان دي او د يادولو نه مُراد عِبادت دې. (تفسِير طِبری ج٦ ص٦١٨) "اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې ترجمه داسې فرمائي: "او د اللّٰه نه سِوا [د بل چا] بندګي مه كوئ." بل آيت د دې تائيد كوي مثلًا اللّٰه تَعَالٰی فرمائي:

وَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰـهًا اٰخَرَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ قف (پ٢٠، القصص:٨٨)

[مفهوم] تَرجَمۂ كَنْزُ الْاِيْمَان: او د اللّٰه نه سِوا د بل خُدائے عِبادت مه كوه، د هغه نه سِوا بل خُدائے نشته.

معلومه شوه چه غيرِ خُدا په خُدائے ګڼرلو باندې يادول شِرك دي ځكه چه دا د غيرِ خُدا عِبادت دې. (د نورو تفصيلاتو د پاره د حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه كتاب "عِلمُ القُرآن" اولوَلئ)

اللہ کی عطا سے ہیں مصطفٰے مدد گار
ہیں انبیاء مدد پر ہیں اولیاء مدد گار
(سامانِ بخشش)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

د الله په عطا دي مُصطفٰی مددګار

دي انبياء مددګار، هُم اولياء مددګار

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

سوال (۱۷): مُشرِكِين د بُتانو نه او تاسو د نبيانو او وليانو نه مدد غواړئ، آيا دواړه په شِرك كښې برابر نه شوئ؟

**جواب: مَعَاذَالله** (يعني د الله تَعَالٰی پناه) د دواړو معامله په هيڅ صورت يو شان نه ده، د مُشركانو عقيده دا ده چه اللّٰه تَعَالٰی بُتانو ته اُلُوهِيَّت وركړې (يعني د عبادت لائق ئې ګرځولي) دي. او هغوئې بُتان وغيره سفارشي او وَسِيله ګنړي او بُتان په حقيقت كښې داسې نه دي. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ مونږ مسلمانان د مُقرَّب نه مُقَرَّب تر دې چه د نبيانو سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُم د اُلُوهِيَّت (يعني د عبادت د لائق ګنړلو) قائل نه يو، مونږ خو انبياءِ كرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام او اولياءِ كرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی د **الله** تَعَالٰی بندګان او د **الله** تَعَالٰی د وركړې اِعزاز په وجه، د **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی په اِذن او عطا (يعني اِجازت او وركړه) شفيع او وَسِيله او حاجت روا او **مُشكِلكُشا** ګنړو.

## د بُتانو نه مدد غوښتل شِرك دي

**مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: د مُشرِكينو د خپلو بُتانو نه مدد غوښتل، دا بالكل شِرك دي.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

ځکه چه هغوئي په هغه بُتانو کښې خُدائي اثر [ګڼړي] او د هغوئي نه د ورکوتي خُدائے ګڼړلو په وجه مدد غواړي او په دې وجه هغوئي ته اِلٰه يا شُرَكَاء (يعني د عبادت لائق يا د الله شريك) وائي يعني هغه بُتان د **الله** بندګان او بيا د اُلُوهِيَّت حِصّه دار مني. (جاءالحق ص۲۱٤)

## د شِرك تعرف

د شِرك معنیٰ ده: د **الله** جَلَّ جَلَالُهٗ نه سِوا څوك واجِبُ الوُجُود يا د عِبادت مُستحِق (يعني د عِبادت لائق) ګڼړل يعني په اُلُوهِيَّت کښې بل شريك كول او دا د **کُفر** د ټولو نه بد ترين قِسم دې. د دې نه علاوه بله خبره كه هر څومره شديد کُفر وي په حقيقت کښې **شِرك** نه دې. (بهارِ شريعَت ج۱، ص۱۸۳) زما آقا اَعلیٰ حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، **مُجَدِّدِ** دِين و مِلّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: "انسان حَقِيقَةً په كومه خبره مُشرِك كيږي نه، تر څو چه غيرِ خُدا مَعبُود (يعني د عِبادت لائق) يا مُستَقِل بِالذّات (يعني په خپل ذات کښې غير مُحتاجه. مثلًا دا عقيده ساتل چه د ده عِلم ذاتي دې) او واجِبُ الوُجُود اُو نه ګڼړي. (فتَاوىٰ رَضَوِيّه ج۲۱، ص۱۳۱) په **شَرحِ عَقائِد** کښې دي: "شِرك" د **الله** تَعَالٰى په اُلُوهِيَّت کښې څوك شريك ګڼړل څنګه چه **مجوسيان** (يعني د اور عِبادت كوونكي) د **الله** تَعَالٰى نه سِوا واجِبُ الوُجُود مني، يا د الله نه سِوا بل څوك د عِبادت لائق ګڼړل لكه د بُتانو عبادت كوونكي. (شرحِ عقائد نسفيه ص۲۰۱)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

میں قرباں اِس ادائے دستگیری پر مِرے آقا
مدد کو آگئے جب بھی پکارا یا رسولَ اللہ

زه قربان شم ستاسو د ادائے دستګيرئ نه
مدد ته راغلئ چه کله مو ياد کړئ يارَسُولَ اللّٰه

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیك او مونځ ګزاره جوړیدو دَ پاره

هر زیارت د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ځائ کښ کیدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو نه ډکه هفته واره اجتِماع کښ د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِیَّتونو سره ټوله شپه تیروئ ۞ د سُنَّتو د تربِیَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښ د عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د دري ورځو سفر او ۞ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذرِیعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په وړومبي تاریخ ئې د خپل ځائ [د دعوتِ اسلامي] ذِمَّه دار ته د جَمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد**: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا دَ خلقو دَ اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دَ خپل ځان دَ اِصلاح دَ پاره په "مَدَني اِنعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا دَ خلقو دَ اِصلاح دَ کوشش کولو دَ پاره په "**مَدَني قافِلو**" کښ سَفَر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ












www.dawateislami.net

MAKTABA TUL MADINAH
MC 1286


فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ الـمدینه (کراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net